July–Aug 64

علمي اجتماعي او ادبي

زمري (۱۳۴۳) لمرنی کال د(۱۹۶۴) عیسوی کال جولای او اګست

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱	د رامپور د رضا کتابخانی	پوهاند رشتین	۱
۲	د پښتو شعر او ادب ...	واسعی	۷
۳	د ستري واکمنی هیله	حداد	۱۵
۴	تاریخ	سیفی	۱۲
۵	خوږی ځمکی د افغان	خان غازی	۴۰
۶	ذهنیتو نه او قضاوتو نه	سید احسان الله هیر	۴۳
۷	د وظیفی اجرا کول	سما یوسف زی	۴۷
۸	د جبو خلك	دولت محمد لودین	۵۵

امتیاز د پښتو ټولنی

مشر پوهاند رشتین

مسئول مدیر محمد صدیق روهی

دهند دسفر له یاد داشتو نو څخه

د رامپور د رضا کتاب خانی
پښتو قلمی نسخی

دهندوستان په شمالی برخه کښی روهیلکنډ د پښتنو روهیلیا نو یوه پراخه سیمه ده . رامپور د دغې سیمی مرکز او یو مشهور ښار دی .

په دې ښار کښې (رضا) نومی کتابخانه ډیر شهرت لری او له هرځای نه ورته خلك ورځی . زه هم د پښتو د قلمی نسخو د لټون په سلسله کښی تیر کال ژمی دغلته ولاړم او د پښتو د قلمی نسخو ځینی یادداشتونه می ورځنی واخستل چه دادی اوس ګرانو لوستونکو ته وړاندی کیږی .

۱- ریاض المحبت :

دا کتاب د پښتو او پارسی لومړنی فرهنګ دی چه نواب محبت خان د حافظ رحمت خان بریڅ مشر زوی لیکلی دی . دغه قلمی نسخی پاڼه (۱۹) لمبر په نوموړی کتابخانه کښې خوندی ده . دا نسخه زما په خیال تر ټولو نسخو پخوانی ده ځکه چه نواب محبت خان د مړینی له تاریخ

یعنی (۱۲۲۳ هـ) څخه اوه کاله وروسته په (۱۲۳۰هـ) کښې لیکل شوې ده مګر لیکونکی یی نه معلومیږی. مخونه یی (۲٦۴) ته رسیږی.

دافرهنګ دالفبی دحروفو په روڼ داول او دوهم توری له مخه ترتیب شوی دی. اول دلغت حرکتو نه او تلفظ ښیی، بیا یی معنا بیانوی اودلغت جنس اونوعیت هم ښکاره کوی لکه مفرد، جمع، مذکر اومؤنث، مصدر اونور چه تراوسه پوری په دی تفصیل دپښتو او پارسی کوم بل لغت نه دی لیدل شوی. کوم لغت چه دپښتو او پارسی ترمنځ شریك وی هغه هم ښیی لکه بادام اودزیاتو لغاتو هندی نوم هم ور سره یوځای راوړی.

ددې فرهنګ لیك دودهم تر ډیری اندازې سم دی اوزیات لغات دویون له مخه لیکی لکه هاجی خیل، هسن زی=حسن زی اونور.

دپښتو (ښ ژ) په دغه اوسنی شکل لیکی لکه (اوښه، بړیژ) مګر (ڼ، ټ ډ) په هندی ډول (ر د ت نر) لیکی یعنی دپاسه پری (ط راوړی.

د (اودس اوتر) کلمی په (و) لیکی، چه پښتو شوی شکل دی خو د (اوبز د) کلمه یی په (ګ) (اوګد) لیکلی ده.

تانیثی (ی) په دې ډول لیکی (مچی ء)

په دې فرهنګ کښې دمجهول اومعروف واو او مختفی او ظاهری (ه) اصطلاح ګانی هم راغلی دی ددې فرهنګ پارسی هم ډیره ښه او روانه ده چه په دې لحاظ دپښتو او پارسی یوغوره فرهنګ ګڼل کیږی.

ددې کتاب هر حرف یوه (روضه) بلل شوې ده او په دې وجه ورته دمحبت خان ریاض وایی.

یوازی کمزوری خبره په کښې داده چه عنوان په عربی ډول راوړی لکه فصل الالف مع الواو.

ددې فرهنګ لوی صفت دادی چه د ټولو پښتنو قبیلو بیان پکښې راغلی دی او د پښتنو سیمې او ځایونه هم پکښې بیان شوی دی چه دا کار په بل قاموس کښې چانه دی کړی . لکه (بونیر، بنو، بنګښ) او نور په دی فرهنګ کښې ډیر نوی معلومات هم شته دی چه تر او سه مونږ ته ته جوت نه وو مثلا د افغان د کلمې په اوځار نه کښې وایی: چه د سلطان محمود مور د زابل د ډیومشر لور او پښتنه وه، سلطان محمود خپله خور ملک ساهو د افغانانو رئیس ته ورکړی وه چه سالار مسعود غازی یې زوی ؤاودهند په (بړایچ) کښې اوسیده . دده نسب بیا ورسته په غلطه سید ښودل شوی دی .

د نورو پښتنو مشرانو نومونه هم پکښې راغلی دی لکه دوندی خان بړیچ، سلیمان خان او داود خان چه د بنګالی او بهار مشران او په قوم کرلانیان وو .

د لغاتو نمونه :

ابا- بالف مفتوح و بای موحدهٔ مفتوح والف پدر راګویند .

ارتول - بالف ممدوده و رای مهملهٔ ساکن و تای فوقانی مفتوح وواو مفتوح ولام ساکن بمعنی کشاده کردن ومصدر متعدی است .

بیلتون- به بای موحدهٔ مکسور و یای تحتانی مجهول ولام موقوف وتای فوقانی مضموم وواو معروف ونون منونهٔ موقوف جدایی و فراق راګویند .

ریښم- برای مهملهٔ مکسور و یای تحتانی مجهول وخای افغانی مفتوح ومیم ساکن ابریشم را ګویند . لفظ مذکر است بر مفرد وجمع مستعمل است .

۲- عجایب اللغات:

داکتاب دهندی اوپښتو یولوی قاموس دی. لومړی هندی لغت راوړی بیا پښتو دحرکاتو او تلفظ سره ښیی، پس له هغه ورسره پارسی او عربی هم بیا نوی. چه په دې حساب د څلورو ژبو یو شریك فرهنګ دی.

دهر لغت دپاسه دغه علامی ږدی (ه-پ-ف-ع) دلغت او څارنه په پارسی سره کوی. ددې فرهنګ جوړوونکی هم دحافظ رحمت خان بل زوی نواب الله یارخان دی چه یو ډیر پوه او عالم سړی معلومیږی. دی ددغه فرهنګ په سریزه کښی لیکی:

«چه مونږ دپلار دشهادت نه وروسته دشجاع الدوله له خانمان سره داله اباد په کلا کښی بندیان شوه. دی وایی چه مونږ به له څوکیدارانو نه په پټه په خپل منځ کښی په افغانی خبری کولی. دی خپل قوم داسی بیانوی: بړیڅ- کوټه خیل- بدلزی- سړبنی.

ده دغه لاندی پښتو شعر دخپل کتاب په (سریزه) کښی راوړی دی خود نواب محبت خان تصنیف یی بولی:

چه حافظ رحمت شهید شو په ژړاشو هر سړی
مرد و زن له ډیره درده په په نار وشو په هی هی
زه په فکر دتاریخ کښی مستغرق وم ناګهانه
هاتف غګ کړچه رحمت ؤ دنبی دامت وی
(۱۱۸۸ ه)

دعجایب اللغات په اخر کښی الله یارخان دکتاب دختم تاریخ داسی لیکلی دی:

ماچه خیال دتاریخ وکه له هجرته چه حساب شو
هم یی دامصرع تاریخ ده چه اتمام یی داکتاب شو

دعجایب اللغات نمونه:

۱ ب- یعنی اوس- بضم الف وواو مجهول وسین مهمله ساکن، بفارسی اکنون بتازی الآن .

بهائی- یعنی رور بضم راء مهمله و واو مجهول ورأ همله ساکن بفارسی برادر بتازی اخ .رو نره- جمع بضم راء مهمله وواو موقوف ونون غنه ساکن وراء ثقیله ونون غنه مفتوح و های خفی بفارسی برادران - بتازی اخوان .

دغه لغت دلیك له مخه یوخه غلطی لری او په دې وجه د نواب محبت خان له فرهنگ ښخه وروسته دی یعنی هغه لغت تر دې زیات باوری او صحیح دی. په دی لغت کښې د فارسی لغاتو د پاره ادبی حوالی هم راوړل شوی دی او دا دالله یار خان په زیاته مطالعه باندی دلالت کوی.

دعجایب اللغات دغه نسخه پخوانی ښکاری او ښایی چه دالله یار خان په ژوند انه کښې لیکل شوی وی خو خط یی دومره ښه نه دی او کچه معلومیږی .عجایب اللغات یوغټ او لوی قاموس دی چه ټول مخونه یی (۳۳۹) ته رسیږی.

۳- درحمان بابا دیوان :

درامپور په کتابخانه کښې درحمان بابا یو ښکلی ښیره وال دیوان هم موجود دی ،رسمونه او ښیرې یی په مغولی سبك دی . دغه نسخه په (۱۲۱۹ھ) کال د محمد شاه بلخی په قلم په کشمیر کښې د شازمان سدوزی د زوی شهزاده ابراهیم د پاره لیکل شوی ده.

په دغه کتابخانه کښې درحمان بابا د دیوان یوه بله قلمی نسخه هم شته مګر خط یی ښه نه دی. په منځ کښې د خوشحال خان یو څو شعرونه هم لری .د دې نسخی ستره ښیګڼه داده. چه دغه نسخه د حافظ رحمت خان

بریخ مالؤ په اخر کښې ور باندی دده مهر لګیدلی دی (رحمت خان ولد عالم خان)اودا جمله پرې هم لیکل شوې ده (دا کتاب د رحمت خان دی) .

۴ـ ددولت خان دیوان :

په دې کتابخانه کښې ددولت خان د دیوان دوه قلمی نسخې هم شته له یوې نسخې سره دمیرزا انصاری د دیوان یوڅه برخه هم یوځای شوی ده . دلو مړی نسخی خط ښه او د دوهمی نسخی خط خراب او کچه دی ددغو نسخو دلیك دود لوی صفت دادی :

چه (ګ) ته لاندی حلقه ورکوی (چی) په (ی) لیکی او (ن) پکښې دحلقی په شکل لیکل شوی دی.

دغه دواړه نسخی نیمګړی دی. سره ددې هم پو ره فایده ترې اخیستل کیږی ـ (نور بیا)

واسعی

د پښتو شعر او ادب خوږې خواوې

او خوندور اړخونه

(٦)

هره ژبه چه پر ډیرو ضرب المثلونو او مقولو مشتمله وی او ادبی ترکیبونه او بدیعی جملات پکښې موجود وی هغه د خوند او لذته څخه ډکه وی او محاورات وعبارات یې د زړه څخه ځکه کوی او متکلم ومخاطب دواړو ته وجد او نشاط ورحاصلوی دا شیان دیوی ژبی ادبی شتمنی بلل کیږی، معنوی قدرت د تعبیر او افادی قوت او ښکلا او حسن یې ثابتوی.

بالمقابل یوه ژبه چه له دی ادبی موادو څخه برخه نه ولری او له دغو ممیزاتو او خصوصیاتو څخه یې لمن خالی وی د هغی ژبی معنوی قدرت او د تعبیر او افادې خوندلږ وی او د مخاطب او سامع پر زړه او احساس مطلوبه اغیزه نشی پرې ښوولای.

د ژبی د دغسی خصوصیاتو او ادبی ممیزاتو ذخیرې د هغی ژبی په شعر او ادب کښې موندې کیږی او د شعر ؤ ادب علمبرداران شعراء او ادبا دی نو هر ادیب او شاعر چه په ژبه کښې وارد وی او د ژبی د مختلفو

محاورو او لهجو سره بشپړه اشنایی ولری دهغه کلام یاد قلم محصولات په زړه پوری اوخوندوروی لوستونکی ته هره مصرع اوهره کرښه دزړه دغذااو قوت غوندی وی اوروح ته یی وجداونشاط ور بخښی بلکه تکان ورکوی .

زموږ ددغی وینایو شاهد هغه مقوله ده چه په پښتو ژبه کښې پښتانه وایی : «پلانی خپله چاړه په اوبو کښی وینی » دد ې مقولې مورد هغه وخت وی چه یو څوك ځان په خطر کښې وینی او د هغه خطر احساس وکړی چه ده ته متوجه وی مثلا یو غل، یو قاتل چه دا یی یقین شی چه دخپلو اعمالو په سزاهرو مرو رسیږی اوپاتیدونکی نه دی نو ددوی په باب کښې دامقوله ویل صحیح دی په شعر او ادب کښې کاظم خان شیدادامقوله خوراموزونه راوړې اوپر خپل موقع اومقام یی په زړه پوری اداکړې اووایی :

شیدا «خپله چاړه وینی په اوبو کښې »
که نن واخیسته دې تا نوی خنجر آب

شاعر خپل مین او محبوب ته وایی که تا نن روغ خپل خنجر ته نوی باټ (آب) ور کړی دی نوزه خپله چاړه په اوبو کښی وینم یعنی په دې پوهیږم چه باټ دی خنجر ته زما د وژلو د پاره ورکړی دی اوما په وهی .

دکاظم خان په دی بیت کښې سر بیره د پښتو د یوی مشهوری اوپه زړه پوری مقولی پر راوړلو یوه معنوی ښکلا اوادبی صنعت هم موجود دی هغه داچه ده ددی مقولې دعبارته څخه یوه خوندوره استفاده کړی ده یعنی دی دخنجر آب هغه اوبه بولی چه خپله چاړه پکښې وینی چه هغه پخپله دغه خنجر دی نو په دغه توګه ګویا ده دی مقولی

ته یو د حقیقت او واقعیت بڼه ور حاصله کړې ده او په رشتیا سره خپله چاړه (خنجر) په او بو (آب) کښې وینی .

موږ پخوا ویلی وه چه شاعر د خپل محیط څخه الهام اخلی او دده تعبیر او افاده چه هر څو نه له خپله الهامه څخه په شناخته کلما تو کور نیو عباراتو وی هغو نه دده کلام خوږوالی مومی او د سامع پر زړه او مغز خوندوره اغیزه کوی د شناخته کلماتو او کور نیو عباراتو نخښه داده چه په کوڅه ؤ بازار کښې مروج ری ، د هرې خولی څخه اور یدل کیږی او د هرې سو یی سړی په پو هیږې او د مقصد او مفهوم په اخستلو کښې ټوله وګړی پکښې مساوی وی او یو شانته اغیزه پر کوی . په مرجو و کلماتو کښې بیا هم فرق موجود دی بعضی کلمات چه دفن او ادب له خوا ویش پکښې سوی دی سوقی بلل کیږی چه دهغو راوړل دیوه ادیب او شاعر له خوا په خپل کلام کښې دده داثر او قلم د محصول ادبی درجه او منزله کښته کوی او دفن ؤ ادب په تله کښې یی تول سپکوی خو بیا هم په ادبی او شعری آثارو کښې بعضی سوقی محاوری راغلی وی چه هغو کلام ته یو ځانته ارزښت ور بخښلی وی او یو داسی کیف او خوند یی پکښې ایښی وی چه د ذوق خاوندان او د ادب او فن څښتنان په درنه سترګه ورته ګوری او د آفرین او تحسین څخه یی هیڅ څوك ځان نسی ژغورلای د دی مقصد د مثال د پاره به موږ د (خروړی سپی) محاوره او اصطلاح را واخلو خروړی د سپی د پاره په بعضو حالاتو کښې مادحه صفت او د ځینو سپوستاینه په کیږی لکه د کوچیانو او پښتنی مالدارانو سپی د دوی سپی باید دوه خصوصیته ولری یو دا چه ډیر به غټ او غښتلی وی او بل به خروړی وی د دوی د کږ دیو او د پسو او رموشاؤ خوا ته

به هیڅ ژوی نه پریږدی لیوه اوشرمښ خوڅه چه یوه پیشی به هم ددی قدرت نلری چه درمی په نزدی خوا کښی تیره سی .

داسی سپی یوه کوچی اومالدار ته تر یوه ښه آس هم ډیر قدر او قیمت لری او د خپل ځان اولاد کور مال اورمی ساتندوی یی ګنی نو که یو شاعر دخرړی سپی جمله چه په ښکاره یو معمولی او سوقی کلام دی پخپل شاعرانه قدرت دژبی دادبی روح سره سم په یوه داسی طریقه پخپل کلام کښی راوړی چه هم لفظی ارزښت او هم معنوی ښکلا ولری او سره له دی د واړو دیوه محیط او اجتماع معرفی اوپیژند ګلوی په کښی موجوده وی آیا دهغه شاعر داکلام به دادب دنقطهٔ نظر او شعرو شاعری له پلوه دقد روړ او د قیمت او اهمیت په نظر نه لیدل کیږی ؟

ددی وینا شاهد دشمس الدین کاکړ دابیت دی چه وایی :

هر مالداره په خروړی سپی نازیږی
ځکه دی دیار په در کښی رقیبان خوښ

مور ؤ پلار دهر انسان د پیدایښت واسطه دی او دده ظاهری هستی ددوی دوو د وجود فرع ده علاوه پرهغه دمورو پلار مادی ؤ معنوی روزنه او ددوی مهرؤ محبت او فوق العاده مینه او عشق ؤ علاقه هرسړی دی ته مجبور وی چه تر خدای رالاندی د دوی سره دونه مینه او محبت ولری چه (خدای دی نکوی) دعبادت او عبودیت اندازی ته ور سیږی اوله دغه جهته په عربی ژ به کښی یو مأ ثور کلام وایی : «الجنة تحت اقدام الوالدین» یعنی جنت د مور ؤ پلار تر پښو لاندی دی او مسلمانان چه دمورؤ پلاراواستادپښی ښکلوی همدغه مأثور کلام په نظر کښی نیولی داکار کوی . نو په هره

اندازه حه دمورؤ پلار لما نځنه او مینه محبت او ددوی چو پړ او خدمت ستایل سوی دی هغو نه یی بی احترامی او سپکتیا نافرمانی او بی اطاعتی غندل سوی او دیوه زوی او لور د بدمرغۍ او شقاوت نخښه بلل شوی ده .

د پښتو یوه شاعر د مورؤ پلار دغه دینی او مذهبی مراتب او اجتماعی تقدس و احترام ته په خپل شعر کښی اشاره کړی او دا څرګند وی چه دده مین او معشوق تر دی اندازی مغرور او خود خواه دی چه د چا د مورؤ پلار په ښکنځا هم نه دی بند او د هر چا مورؤ پلار د پښتنو خبره د شفتل غوندی ور ښکنځی دا شاعر شمس الدین کاکړ دی چه وایی :

په ښکنځا د مورؤ پلار دی
و هر چا و ته معاف

شمس الدین د خپل معشوق عمومی محبوبیت ښیی وایی دده په ښکنځا هغه بیا هم د مورؤ پلار په یا دولو هیڅ څوك نه خفه کیږی او نه دده دا ښکنځا پرچا بده لګیږی سره له دی چه په پښتنو کښی دا مشهوره ده چه وایی «چه مورؤ پلار یی را یاد کړی وای دو نه به می خوانه وای بده سوی لکه دا کار چه یی وکړ» غرض دا چه د مورؤ پلار یا دول دیوه پښتانه په نظر لوی عار او شرم و ننګ بلل کیږی او له همدغه جهة د پښتو ژبی په مقولو او متلو کښی دا متل هم راغلی دی چه وایی : « پلار می مه ښکنځه ښکنځلی پلار دی ښکنځم ها ښاغلی »

پښتانه د تحقیر او سپکاوی د پاره پخپله ژبه پښتو کښی خاص کلمات لری چه هغه د دغه مقصد دا فادی د پاره مستعملوی

د تحقیر ؤ سپکاوی کلمات هم قسم قسم او ډول ډول دی مثلا دا هم یو قسم تحقیر دی چه «پلانی نو بیا څوك دی!» یا «دا بیاد کم ځای دی؟» یا «ته بیا چا را وستلی یی؟» یا «تا ته څوك وایی؟» داټوله تحقیری جملی دی خو صرف په موقع او مقام او په لحن و لهجه او دبرغ او صوت په کیف پوری اړه لری او په هره توګه او مطلق تحقیر نه بلل کیږی .

مګر یوشمیر تحقیری کلمات هم سته چه هغه په مطلق په ډول بی له کم قیداوشرطه څخه په هروحت او هرموقع کښی د سپکاوی او تحقیر معنی افاده کوی یوله دغو کلماتو څخه د(هرغوږ) کلمه ده که څه هم دا کلمه ظاهراً نه د ښکنځلو او نه د کم تحقیر او سپکاوی بڼه لری خو په معنی کښی د خورا بی اهمیته او دهغه چا په مقابل کښی ویل کیږی چه هیڅ تول او وزن دمتکلم په نظر کښی نه لری بلکه په ډیره بی اعتنایی ورته ګوری او په هیڅ ډول شخصیت نه وی ورته قایل او تش یوژوی قدریی ګنی او داوز ګړی ؤ بزی او میږی یا سخوندریا دبل دغسی څاروی چه ترغوږ نیولی بیول کیږی په ستر ګه ورته ګوری .

لکه شمس الدین کاکړ چه پخپل کلام کښی راوړی او وایی:

له نادانه پټ کړه سره حقایق

هرغوږ کله د خبرودی لایق

لوستونکی ته به په دې بیت کښی غوږ په لومړی پلا پخپله حقیقی معنی پخیال ورسی او ترجمه به یی داسی کوی چه هرغوږ یعنی هر سړی ددې لایق اووړ نه دی چه دحقایقو اسرار ورته ووایل سی او په داسی موضوعاتو کښی ورسره وګړیږی که څه هم دبیت په معنی او ترجمه کښی دا

قدر هم کفایت کوی او صحیحه ترجمه ورته ویلای سوخو دا ترجمه دهغو کسانو څخه موږ قبلو واود صحت جایزه ورته پرایږ دوچه دوی تش په سطحی ترجمه اود الفاظو په سر بیرن مفهوم قانع وی اود کلام ژ و راړ خو نه نه پلټی.

د پښتو په شعر او ادب کښی یوه برخه داسی ټوټې موږ ته په مخه راځی چه په ښکاره ډیر ساده او دمتعار فواو مرو جو تر کیبا تو څخه کار اخیستل سوی وی مګر چه څوك ښه ورته ځیر سی هره جمله په عینی ساده ګی کښی یو شاهکار اود شاعر یو ابتکار بلل کیږی دا ځکه چه شاعر خپله مدعا په داسی ډول افاده کړې وی چه کلمات یی زړه منونکی او روح قبلونکی وی او خپل مقصد یی په داسی عباراتو کښی راوړی وی چه هغه په ژبه کښی خورا خوندور او خواږه عبارات بلل کیږی اود خوند او ذوق څښتنان ژبی پر ټکوی یعنی د شاعر د شعر یا د ناثر د نثر هره جمله په ژبه کښی خپل خاص مقام ولری او پر هر زړه او روح هر ومرو اغیزه کوی او ښورؤ حرکت ورکوی.

د داسی ټوټو یو ممتاز خصوصیت دا هم وی چه کلمات ډیر شرنګولی (آهنګ لرونکی) وی او مفهومونه ئې مؤثر او دلمر غوندی ځلاند او څرګند وی تلفظ یې په خوله کې خوند کوی او مفهوم ته یی د لوستونکی زړه باغ باغ کیږی او نڅا ورته کوی د داسی ټوټو یوه لنډه نخښه د ښاغلی محترم فاضل دا وی دا غزل ده چه وایی:

که یو وار زمو ږ پر کلی واړوې
د غم بار به مې له ولی واړوې
تغافل او التفات غبرګې چړې دی
چه ته ستر ګې ناز ولی واړوې

لیونی دې کړم کوڅیو خصوصا
چه تر غوږیې نا او دلی واړوې
که دې تورې سترګې سپینې په ژړا کړې
د قسمت به کله کښلی واړوې
که خیرات ود عامله کړې دخپل سعی
د ازل به لا و یشتلی واړوې
واعظ ! هلته به دې بولم له مستۍ څخه
د اښیلی ښو هید لی واړوې
داوې ! پیژنم دې نسته هیڅ حاجت
چه دې ډول دغزلې واړوې

ددې ټوټې پر لفظی اومعنوی ښکلاؤ اوادبی مزایا ووبه دکابل مجلې په را تلونکی ګڼه کښی موږ مفصل وږغیږو اودښاغلو لوستونکو مخی ته به یې کښیږدو .

(نور بیا)

داحمدشاه بابا میراث

ښاغلی قدرت الله حداد

دستری واکمنی هیله

ستر ټولواك شاه زمان چه ورسته تر تیمور شاه (۱۲۰۷ هـ ق ۱۷۹۳ م) د افغانستان دچارو واکمنی په لاس کښی و نیولې، دلته ډیر اساسی کړاوونه په منځ کښی ؤ چه له هغو ټولو سره مقابله نه یوازی د شاه زمان او افغانستان له لاسه نه وه پوره بلکی په ټول ختیځ کښې دغه توان په چا کښی نه ؤ.

دلوی واکمن احمد شاه بابا په مهال کښی افغانستان د ختیځی نړۍ ستر هیوادؤ اودغه لوی پلار خپل اساسی تګ ټکی ټولو ته څرګند کړ، هغه داؤ چه ده غو ښتل د سوری شیر شاه او د غور د واکمنو دوره بیرته ر اولی او دپښتونخوا سیمه دافغانستان ترعنوان لاندی بیا ژوندی کړی. کوم لیك چه د تاریخ په ټولنه کښی د ښاغلی حبیبی لاس ته ورغلی او هغه داحمد شاه بابا له خوا د ترکو دواکمن په نامه لیکل شوی دی ددې خبری روڼ دلیل دی. دغه رازدده په وینا کښی، دغه مطلب هر ځای لیدل کیږی چه د افغان اولس دهرسړی د هیلو مثال دی.

له بلی خوا دپانی پت په جګړه کښی چه د انګریزانو لاس

د دښمن ملاتړینګه نیوله وه او دوی دده د توری په زور پوه شوی ؤ(۱) دا د دی سبب شو چه انګریزان په دی و پوهیږی چه د چین روسي ایران او هندوستان ترمنځ یو تریالی او پیاوړی اولس پروت دی چه د هیواد خپلواکی او برم په هر مهال کښی د توری په زور ساتی دی خبری دوی په دی فکر کښی واچول چه څرنګه دغه هیواد ماتولی شی، او په څه توګه د لته خپلو ګټو ته لاره جوړه کړی؟ موږ ټول په دی پوهیږو چه انګریزان نه یوازی تر ختیځو هیوادو په سیاست او صنعت کښی هغه مهال ګړندی ؤ بلکه تر اروپایی هیوادو هم ترمخه ؤو او هغه زمانه ددوی د نړیز امپریالسم زمانه بلله کیږی او هم په نړۍ کښې یو بې ساری نظامی اقتصادی او سیاسی قوت ؤ.

دهند دشتمنیو نکلونه داروپا هر ګوټ ته رسیدلی ؤو او دغو نکلونو دخوږو خوبونو بڼه غوره کړی وه چه هر چا به نه لیدل، فرانسی هم خپل بیرغ اوچت کړی ؤ او غوښتل یی چه د هند په یوه برخه کښی یی ودروی چه دفرانسی اولس هم له دغه دستر خوانه لږ څه برخه واخلی.

دامپریالسم دسیلاو په دغه بهیر کښې ډېر هیوادونه لکه وچ لرګی داو بو پر سر تاویدل را تاویدل؛ داهم مشهوره وه چه «احمدشاه افغان» دهند شتمنۍ خپل هیواد ته وړی په دی لاره چه تیریږی نو هغو ته به هم لاس وروغځوی. دادهغه مهال خوږ خوب ؤ چه امپریالستی هیواد و به لیده.

پر دغو کړاوو سر بیره شاه محمود چه لکه د شاه زمان د لویی

(۱) دښاغلی مخمور دهندوکش مقدله په اصلاح کښی.

مفکوری خاوند نه ؤ ایران ته و لاړ او د شاه زمان له لپاره یی د نا کراری زمینه برابره کړه . هر کله به چه شازمان خپلی لښکری ټولولی او غوښتل به یی چه د سکه تیری کونکو مخه و نیسی نو شاه محمود به هرات ته را ننوت او دغه کار شاه زمان نه پریښود چه یوه لوری ته پاملرنه وکړی، له دغه کړاو سره، د ننه په هیو د کښی هم دانګریزانو په لسمون د شاه شجاع له پاره فعالیت جاری ؤ او شاه زمان اړشو چه دهغه طرفداران له منځه یوسی او ددی کار نتیجه داشوه چه دهیواد ډېرمشران دده په مخالفت راپاڅی دوی ته داڅرګنده نه شوه چه شاه زمان غواړی د هیواد د خاورو بشپړ تیا تر سره کړی او ټول یاغیان بیرته دمرکزی حکومت تابع کړی. دمالکم او نورومؤرخینوله وینا څرګندیږی چه شاه زمان لکه احمد شاه بابا دافغانستان دستری واکمنی هیله درلوده .

شاه زمان دغه راز دستری واکمنی په هیله کښې پاتی شو مګر دده عظمت او لویوالی او د اعزم چه غوښتل یی شااو خو اپښتنی خاورې بیرته سره یو کړی ټولو ته څرګند ؤ که له نورو شوا هدوتیر شو نو هغه تړون چه په ۱۸۰۰م دایران اوانګلستان تر منځ لا سلیك شو دغه مطلب مخی ته را اچوی (۱)

دادی اوس دغه تړون ګورو او داسم هغه مهال دی چه دستر واکمن شاه زمان لوی او له افتخاره ډك لښکر دهند دحملی له پاره چمتو شوی ؤ چه نه یوازی رنجیت سنګه بلکه انګریزان غبرګ له منځه یوسی مګر سمدلاسه انګریزانو ایران تر اغیز ې لا ندی راست او دغه لاندی تړون یی ورسره و کړ چه د هغه له مخه د انګریزانو

(۱) افغانستان مخ ۱۰۹ د ایران چاپ

ویره اووارخطایی ښه څرګندیږی :

لومړی فصل :ـ دانګلستان او ایران لوی دولتونه عهد کوی چه دیوبل په مرسته او ملا تړ خپل دښمنان له منځه یوسی.

دوهم فصل: هر کله چه د افغانانو امیر (شاه زمان) و غواړی چه پر هند باندی حمله وکړی د انګلستان او ایران دواړه لوی دولتونه به په ګډه سره قواوی چمتو کوی او پر هغه به ور دانګی او تر آخری اندازی به هڅه کوی چه د افغانانو امیر حملی ته پری نه نږدی.

دریم فصل : هر کله چه دافغانانو امیرو غواړی چه له ایران سره دوستانه روابط ولری او دسولی غوښتنه وکړی د ایران دولت وعده کوی چه دسولی د معاهدی له تړل کیدو سره پرافغانانو باندی دا التزام کښیږدی چه له خپلو تېر یوڅخه د انګلستان د پادشاهی دولت تر نیول شوو خاورولاس واخلی :

څلورم فصل :ـ کله چه دافغانانو امیر یافرانسویان وغواړی چه دایران دپادشاهی دولت په خلاف د دښمنۍ په عملیاتو لاس پوری کړی دانګلستان پادشاه وعده کوی چه دجګړی سامان اوتوپونه څومره چه امکان ولری له لازمو وسیلو او عملی سره د ایران یو بندرته ورولیږی او دایران دلښکروعالی منصبدارانو ته یی وروسپاری.

پنځم فصل: کله چه د فرانسی نظامی قواوی وغواړی چه دایران په ساحلو نو یاجزیرو کښی پلی شی دواړه دولتونه به د هغو په ایستلو کښې په ګډه سره هڅه کوی (۱)

د دغه تړون ترلاسلیك کیدو پوری داسی بر ېښی چه انګریزان

(۱) د افغانستان اوایران سیاسی ورابط دتهران چاپ

له افغانستان اوشاه زمان څخه سخت په ویره کښې ؤ مګر لږ وروسته یعنی د۱۸۰۹ دجون په اومه نیټه په پښاور کښې د شاه شجاع او الفنستاین Alfhanstain تر منځ یو تړون لاس لیك کیږی چه هغوی کولای شی دافغانستان په چارو کښې لاس ومومی اوهم دشاه شجاع دنفس په کمزوری پوه شی (۱)

شاه زمان چه داحمد شاه بابا دخاورو بشپړتیا غوښتله دستري واکمنی هیله یې ترسره نه کړه، ځکه شاه شجاع اوشاه محمود په ختیځ اولویدیځ کښې دده مخه ونیوله.

ترټولو مهمه خبره داده چه شاه زمان په دې پوهیدلی ؤ چه انګریزان په لومړی سر کښې رنجیت رسنګه راپاروی اومرسته ورسره کوی نوده یوه ستره سفر بری راواخیسته چه هدف یې در نجیت سنګه اوانګریزانو سره مقابله وه مګر له بده مرغه دغه هیله یې ترسره نه شوه اودلوی احمد شاه بابا میراث مخ په تالا کیدو ولاړ انګریزان بریالی شول چه له دغو عواملو څخه ګټه واخلی ستره واکمنی ورورو ورانه کړی اوتردې حده راورسیږی چه کابل، کندهار اوجلال آباد ونیسی.

مګر دافغانستان دخاورو دبیرته ګټلو هیله تل دافغانستان دربښتینو زامنو په زړه کښې پاتې شوه څرنګه چه وروسته بیادملی مشرانو له خوا ډېرې هڅې وشوی. د مثال په توګه دامیر دوست محمد خان په وخت کښې وزیر اکبر خان چه دپلار له خوا دلغمان حاکم شو نو دنورو مشرانو په ملګرتیا پر باجوړ اوچترال ورغی او انګریزانو دغه موضوع امیر دوست محمد خان ته وویله هغه خپل نامتو زوی بیرته راوغوښت اوداخبره یې تایید نه کړه.

۱ـ د پښتو تاریخ قاضی عطاؤالله

که د افغانستان په تاریخ کښې یوه ژوره څیړنه وشي نو هرمهال دغه یون دهیواد په رښتینو زامنو کښې لیدل شوی دی مګر له بده مرغه یولړ نورو عواملو دافعالیتو نه شنډ کړل اوموږ بریالی نه شوو چه خپل غړی راټول کړو دښمنانو په دغه اوږدې مودې کښې دافغانستان یوه ستره برخه چه دغه اوسنی افغانستان وی ترټولو دمخه دخپلواکۍ مقدس تکل راواخیست مګر په هر تړون کښې که څه هم ترخپلواکۍ دمخه یی ګرده تحمیلی اوجبری دی د دیورند دکرښې هاپلو موضوع یاده شوی اوویل شوی چه افغانستان به دهغوی دملاتړ حق لری حتی دګندمك په تړون کښې هم دغه ماده په لاندی مضمون لیدل کېږی (۱)

دوهم فصل:- دسیالکوټ ولایت او پشنګ سیمه دکوژك تر جهیله پوری او کورمه ترځاځیو پوری اودخیبر دره داوه کوهی ترختیځ څنډی پوری اود لنډۍ کوتل پریښودل انګریزانو ته قطعی او دایمی نه دی بلکه دافغانستان له خاورو څخه پیژندل کېږی او مالیی به یی دمصارفو تر ګرځولو وروسته افغانستان ته ورکول کېږی. یوازې دهغو ساتنه او اداره په انګریز پوری اړه لری اودخیبر او میچنۍ ساتنه په افغانانو پوری اړه لری. (د می ۲۶ - ۱۸۷۹ م)

وروسته تردریمی جګړی دافغانستان واکمن په خپله رسمی وینا کښې دانګریزانو هیئت ته وویل: «که دپښتنو په سیمه کښې ظلم او تېری وشی اودهغوی غږ زموږ غوږوته ورسېږی نو دغه کرښه زموږ داقداماتو مانع نه شی کیدای». په هرحال وروسته تراحمدشاه بابا دده دهیلو مشال نه دی مړ اوتل موږ خپلو غړوته د غړی په نظر ګورو.

(۱) منابع د پښتو تاریخ افغانستان په نولسمی پیړۍ کښې



له زبدة الصحائف څخه اخیستنه :

بناغلی سیفی

تاریخ

تاریخ دهغه علم نوم دی چه دتېرو قامونو اودهغو دښارونو ، دودونو، رواجونو، عادتونو، اشخاصو، صنایعو، نسلونو اونسبونو اونورو حالاتو څخه بحث کوی موضوع ئې انبیاء اولیاء علماء؛ پاچاهان، سلاطین، وزیران، حکماء اونورتېرخلك اواشخاص دی ، غرض ئې په تېرو پېښو اوحالاتوځان خبرول اوپوهول دی اوګټه ئې دتېروحالاتو اوواقعاتو څخه عبرت اوپند اخیستل دی .

رومانی فیلسوف شیشرون ویلی دی چه تاریخ دتېروو ختونو او پېړیو شاهد؛ دحقیقت رڼا، دژوندانه پوهنتون اودتېرو لویانو او قامونو له خواراتلونکو لویانو اوقامونو ته یوقاصد او استاز ی دی، دغه فیلسوف دخپل دغه تعریف په پای کښې وائی چه تاریخ دپاچاهانو اورعایاؤ دواړو دپاره ډېرښه استاذ اومعلم دی. مګر دا علم دنورو پوهانو اوددې فیلسوف دتعریف اومقصد سره په هغه وخت اوصورت کښې برابرېدلای اوسمون خوړلای شی چه ددې فن لیکونکو یعنی مؤرخ دهغو شرطونو سره برابراو یاپه بل عبارت دهغو صفتونو اوښېګڼوخاوندوی چه دلویو اوپیاوړو پوهانو له خوا دیو حقیقی اوسم مؤرخ دپاره مقرر اوټاکل شوی دی، هغه دادی

چه باید یو مؤرخ یعنی د تاریخ لیکونکی حکیم، فیلسوف او داسې عالم او منصف او بې طرفه انسان وی چه خلکو ته دوهمونو او وسوسو او نورو اغراضو څخه داسی پاك اوسوچه تعلیم ورکړی چه خلك دهغه دلیك او مضمون څخه؛ نه دهغه وطن او دین او قومیت معلوم کړای شی او نه دهغه دقلم څخه څوك دهغه مذهب او غرض معلوم کړای شی؛ بلکه خلك دهغه دقلم څخه داحقیقت معلوم کړای شی چه دامؤرخ بې له حق او حقیقت څخه بل دین او مسلك او مذهب نه لری تر څه وخته پوری خوداعلم دمعتبرو علمونو په کتار کښی نه ؤ ګڼل شوی لیکن هر کله چه تریوې اندازې دخلکو دفکرونو لمن ارته شوه او پېښی او حوادث هم تریوې اندازې ډېر او زیات شول نو خلکو دا ضرورت محوس کړاویا په بل عبارت دخلکو دې خبری ته پام شو چه باید داپېښې او واقعات دلیك او تحریر په قید کښې راوستلای شی او دافن په یو چوکاټ کښې راوستلای شی ددې مفکورې په اساس د تاریخ پوهانو زمانه په درو ډولو او برخوو وېشله چه په لاندې کرښو کښې به ور باندې جلا مفصل بحث وکړای شی:

داوېش او تقسیم پر ته له هغی زمانې څخه دی چه د تاریخ څخه وړاندی یعنی هغه زمانه ده چه تاریخ خلك دهغې د پېښو او واقعاتو سره پوره نه دی اشنا کړی ؛ که څه هم متأخرینو یعنی وروستیو مؤرخینو له دغی زمانې څخه لږ و ډېر بحث کړی دی مګر هغه دومره جزوی او مجمل دی چه په نیشت حساب دی، او دا ځکه چه په هغه وخت کښی دهغو لومړیو پېړیو نسو نه چه د تمدن او علم او معرفت لور ته راروانی وې دراز راز علمونو او معرفتونو څخه ډکؤ مګر په دغه وخت کښې «فینیقی» میندودا کارونکړای شو چه دخپل فینیقی نیمګړی

خط په واسطه له دغو نسونو څخه دتمدن اوعلم او معرفت بچی را وزېږولای شی اویا په بل عبارت دباندی راوویستلای شی، مگر سره ددې هم ددغه عصر اوزمانې خلکو داخبره ضروری اولازمه وګڼله چه ځینی داډول نخښی او اشارې اورمزونه اوعلامې جوړی اواختراع کړی چه دهغو په ذریعه راتلونکی نسل دتېر نسل دحالاتو اوواقعاتو څخه لږ و ډېر خبر شی، ددې ضرورت اومفکورې په اساس هر قام اوهری قبېلی دخپلو فکری استعدادونو اومحیطی ذوقو نو سره سم ددې مرام دتر سره کولو دپاره ډول ډول رمزونه اواشارات او نخښی او علامې وټاکلې.

ځینو قبېلو داخبره غوره کړه چه هر کله به یوې قبیلی دبلی قبېلې اویا یو قام دبل قام سره دیو مهم کار په خصوص کښې کوم تړون وکړاویا به ددوی په منځو کښې کومه دذکر اویادونی وړ کومه شخړه اویا کومه حادثه پېښه شوه نو په دغه صورت کښی هغوی ددغه کار دیادونی دپاره یا کومه ودانی اویادتیږو اوډبرویو مخصوص څلی اویا یوه داسی عجیبه اوناآشنا علامه دروله چه هرچا به ولیدله نو ارومرو به ئې داپوښتنه کوله چه دادڅه دپاره جوړ شوی دی ددې پوښتنی په ځواب کښی به دوی دخلکو څخه ددغی علامې اوودانۍ اوڅلی اونورو په خصوص کښې دهغه کار پوره تفصیل اورېده اوپه دې ترتیب به دغه خاطره خوله په خوله دیو څخه بل ته رسېدله لکه چه لیدل کېږی له دې تاریخی طریقې څخه نن هم متمدن قامونه ډېر کارونه اخلی اودخپلو فتوحاتو اودلویانو دکارنامو دذکر دهمیشه والی اویا دساتلو دپاره دظفر طاقونه اوڅلی او نور شیان جوړوی.

ځینو قامونو او خلکو به لکه دپخوانو مصریانو دقلم په څوکه دمختلفو صورتو نواونقشونو په ذریعه دقامونو مختلف دو دونه او حالات رسم کول چه دهغوی ددغو کارونو آثارنن هم دمړوپه تابو تونو او نورو مختلفو ځایونو کښی درسم اویالیك په بڼه او شکل کښی لیدل کیږی اودغه ډول کار به چینیانو هم کاوه اوترنن ورځی پوری په هغوی کښې دغه کارونه رواج لری .

ځینو خلکواو قامونو به پېښې او واقعات په شعرونو ددې دپاره نظم کول چه دشعریاد ساتل نسبت نثرته ډیر آسان وی لکه چه دې کار په یونانیانو کښې ډیر رواج درلود. لیکن لکه څنګه چه دزمانو انقلابونو او پېښو دغه پخوانی نخښی او رمز و نه اوځلی اواشارې دمنځ نه یو وړلې نو نن وروستی نسلونه هغه حقیقی علل او اسباب بیخی نه شی معلومولای چه تیروخلکو هغه ددغه مقصد دترسره کولو د پاره جوړی اوودانې کړی وې او دا خبره چه نن دځینو آثارواو نخښواورمزونو په شااوخوا کښې ډیرې خبرې او بحثونه کیږی داټولی خبری بې دحدس او تخمین څخه پرته بل شی نه دی همدغه راز دپخوانوشاعرانو دکلام څخه چه خلکو کوم مطلبونه اخیستی دی هغه هم دهغو دوینا دحقیقی مقصد اومطلب څخه بیخی لیری دی لکه دقامونو د دو دونو او اخلاقو او جنګونو اودځلمو دمیړانو اوغورځنګونو ځینی داستانونه اوقصې .

لیکن حقیقت دادی چه هغه مهمی واقعې اوحوادث چه دمځکی په مخ کښی ئې تغیر راوستلی دی هغه ترنن ورځی پوری مجهول پاته دی اوشاعرانو پکښې هیڅ نه دی ویلی او که چا څه لږ وډیر ویلی هم دی نو هغه دځینو خلکو په عقیده تشی افسانی دی او دهغو روایات صحیح نه دی -

لیکن په نوموړی طریقه «اومیروس» هغه لومړی یونانی مؤرخ دی چه دی مؤرخ د میلاد نه وړاندی په نهمه پېړۍ کښی تاریخی واقعات په نظم کړل او د همدې مؤرخ او شاعر د شعرونو او نظم برکت ؤ چه راتلونکی نسل ته د دې نظم او شعرونو په ذریعه د «روم ایلی او اناطولی» په خصوص کښې لږ و ډېر معلومات په لاس ورغلل او د ځینو پوهانو په عقیده هم داد یونانیانو او رومانیانو د پاره د هغوی د تاریخ د علم اصل او بنسټ دی .

په دې ځای کښې مو د ځینو پوهانو په عقیده ځکه وویل چه په عمومی ډول خو داخر گنده خبره ده چه د حضرت موسی علیه السلام اسفار د میلاد نه پخوا په پنځلسمه پېړۍ کښې په قلم لیکل شوی دی .

د تاریخ د هغو د روقسمونو څخه چه وړاندی ذکر شوی دی لومړی قسم عبارت د هغی زمانې څخه دی چه د غه زمانه د انگلیسانو په اصطلاح کښی د دې فن د طفولیت د زمانې په نوم یادېږی او د اځکه چه په دغه وخت او زمانه کښی مؤرخینو یوازی سرسری او عادی مسئلی لکه حادثی ، اشخاص ، ځای او وختونه په نظر کښی نیولی وو، او په خپلو کښی د واقعاتو یو له بله ارتباط او د دولتونو او قامونو په منځ کښی د یو بل سره نسبت او د دوی په منځو کښی د اختلاط کیفیت غوندی مهمو مسئلو ته ئې هیڅ پام نه ؤ کړی ، له دې کبله پوهان په دې عقیده دی چه د یو بل سره دانس او مینی او انسانی اجتماع او ټولنی یوازینۍ زانگو د تاریخ زانگو ده یعنی لکه څنگه چه د انسان د وجود زمانه اصل فطرت ته نژدې ده همدغه راز د تاریخ د وجود زمانه د تاریخ د طفولیت دورې نه نژدې ده لیکن که څه هم په دغه وخت او دوره کښی تاریخ یو کامل او پوره موجودیت نه درلود مگر سره د دې هم د راتلونکی نسل په تمدن او د هغه د اعتباراتو یه منشا کښی قوی عامل او مؤثر سبب گڼل کېده .

په دې وخت یعنی د تاریخ په دې دوره کښې په یونانی مؤرخینو کښې « فرقید » اوهیلانیکوس چه په سنه ۴۱۱ قبل المیلاد کښې پیدا شوی ؤ ډېر مشهور مؤرخین ؤ واو په رومانی مؤرخینو کښې «والریوس قاطون» نومی هغه مؤرخ چه په سنه ۷۰۰ قبل المیلاد کښې ئې ژوند کاوه ، او قابیوس فیکطور نومی مؤرخ هغه لومړی شخص چه د خپل وطن تاریخ ئې لیکلی او په سنه ۲۱٦ قبل المیلاد کښې ئې ژوند کاوه ډېر مشهور تاریخ پوهان وو .

ددی فن دوهم قسم هغه دوره ده چه په دغه وخت اوزمانه کښې په په خلکو کښې دیو بل سره ګډون او تماسونه نسبت پخوانو وختونو ته ډېر اوزیات شوی ؤ واو په همدې وخت او دوره کښې مؤرخینو د جنګونو د تاریخونو په لیکلو پیل وکړ دغو خلکو ددې خبری حق درلود چه دوی د حقیقی مؤرخینو په نوم یادشی او دا ځکه چه دوی په دې اقدام او کار کښې ترټولو لومړی او اول خلك ؤ و مګر سره ددې که څوك ددې فن حقیقت ته ځیرشی نو دوی ډېر عیبونه او نواقص لرل او هغه داچه دوی په دغه کار کښې یعنی د تاریخ په لیکلو کښې د وخت اوزمانې تقاضا ګانې اخلاقی حالات او د خلکو طبیعتونه او عادتونه په نظر کښې نیولی او د دغو شیانو مراعات ئې کړی دی .

ځینی مؤلفین دا نظریه لری چه که یو مؤرخ د انصاف خاوند نه وی او حقیقت ترپښو لاندی کوی ، او نفسانی غرضونو په سر اخیستی وی او هر څه چه د ده په قام او وطن کښې کیږی هغه ورته حق او ښه ښکاری نو باید په دې صورت کښې د دې ډول شخص هغه تاریخ ته چه د خپل وطن په خصوص کښې ئې لیکلی وی د هغه د وطن د ستاینې داستان وایو نه تاریخ، مؤرخین وائی چه دا ډول نواقص او عیبونه د یونانیانو

مؤرخینو په نسبت په رومانی مؤرخینو کښې ډېر زیات وو او وداځکه چه هغوی خلکو ته په خپلو لیکنو کښې د دې خبرې څرګندول غوښتل چه رومانیان یو داسې خلک دي چه د آسمان څخه مځکې ته را کښته شوي دي او د خپلې دې مدعې د ثابتولو د پاره ئې د خپل تاریخ په کتابونو کښې ډېرې زیاتې خرافاتې افسانې لیکلې دي لکه د :

« تیتلوه » نومې مؤلف په کتاب کښې هغه قصه چه د «رومولوس» په خصوص کښې ئې په دې ترتیب لیکلې ده چه یو ې زمرې هغه رومولوس ته خپلې شیدې ورکړې چه د خپل ورو « رومولوس » سره ئې په سنه ۷۵۳ قبل المیلاد کښې ئې « رومیه » نومې ښار ودان کړې ؤ او همدغه راز نورې افسانې .

دې مؤرخینو چه به د جنګو نو واقعات لیکل نو د خپل دې کار په خصوص کښې به ئې داسې لیکل چه : زموږ قوت او تدبیر او عقل او فکر د دې خبرې غوښتنه او تقاضې کړې چه باید اقتدار زموږ په لاس کښې وي او په نړۍ دې زموږ حکومت وي او خلک دې زموږ د حکمونو او امرونو تابع وي ، او چه کوم اقلیم به ئې په زور لاندې کړنو د دغه ظلم او تېرې په خصوص کښې به ئې لیکل چه د ازموږ لکه زموږ د خپلو نورو مالونو خپل شخصي مال او ملکیت دي د دوی په لیکنو کښې داهم شته چه په نړۍ کښې پیاوړې او مېړه کامونه فقط یونان او « رومان » دي او پرته له دوی څخه نور کامونه او خلک فقط بنې آدم دي نه یونان او رومان .

په دغو مؤرخینو کښې نور عیبونه هم وؤ مګر په دغو عیبونو کښې دوی سره نور وروستي مؤرخین هم شریک دي چه هغه پرته دو طن دمینې څخه د نورو شیانو سره مینه ده لکه د یو قام او یو ملت او یا د یو

جنس سره مینه ، دمثال په ډول که یو مؤرخ داشرافو یعنی د مقتدری طبقې څخه وی نو هغه په خپل کتاب کښی دداسی لارو چارو د برابرولو او لیکلو هڅه او کوښښ کوی چه په هغو دلویانو دسلطې او اقتدار بنسټ ټینګ شی او که معامله ددې په عکس یعنی مؤرخ دعادی خلکو دطبقې څخه وی نو دهغه هڅه او کوښښ هم دپورته هڅی او کوښښ په عکس وی .

په یونانیانو کښی په دې قسم کښی لومړی یعنی اول مؤرخ «هالیکرناسی ، هردوط او یا هیرود توس» نومی مؤرخ ؤچه په سنه ۴۸۵ قبل المیلاد کښی دیونانیانو سره ددارالملك دزوی «اکزرسیس» دجنګ نه وروسته پیداشوی ؤ ؛ اودی په مؤرخینو کښی د «ابوالتاریخ» یعنی دتاریخ دپلار په لقب ځکه یادیږی چه دی په دغه وخت کښی لومړی شخص ؤچه دتاریخ په لیکلو ئې پیل وکړ ؛ داسړی هغه لومړی مؤرخ دی چه دخپل کتاب په لیکلو کښی یې اول ددې خبری کوښښ وکړ چه دکو مو قامونو او خلکو څخه چه دی په خپل کتاب کښی بحث کوی باید اول دهغو خلکو اوقامونو په اصل اونسب پوره بحث وکړی او د پخوانو خلکو په خصوص کښی د ډیر ژور فکر او صبر او تعقل نه ورسته راتلونکو خلکو ته ډیر باوری اوپاخه معلومات په لاس ورکړی ، لیکن سره ددې هم دغه مؤرخ ددې دپاره چه یونانیان دده کتاب ته راماتشی اوعلاقه ورسره پیدا کړی دیونانیانو خرافاتی قصې او افسانوی اوهام ئې په خپل کتاب کښی ځای کړی او په خپل کتاب کښی ئې دیونانیانو ډیره خوشامنده کړی ده . له ده نه وروسته په یونان کښی یو شمېر مؤرخین راپیدا شول چه هغوی هم په دې قسم کښې ګڼل کېدل لیکن په دغو مؤرخینو کښی «توقیدید» یا «تولیدیدن نومی

مؤرخ ډېر شهرت درلود چه په «مورة» نومی جنګ کښی ئې په خپله ګډون کړی او ددغه جنګ روزانه واقعات ئې دروز نامچې په شکل لیکلی او وروسته ئې ورڅخه ددغه جنګ په نوم یو غټ کتاب جوړ کړی دی .

له ده نه وروسته بل ډېر مشهور د «غریلوس» زوی «اغزنیفون» یونانی مؤرخ دی چه په سنه ۴۵۰ قبل المیلاد کښی پیداشوی او په فلسفه او سیاست کښی ئې دسقراط په مقابل کښی «قوروبودیا» نومی یو کتاب تالیف کړچه په ادبی حکمتونو او سیاسی حکمونو مشتمل ؤ .

ځینی مؤرخین دا نظریه لری چه دادرې مؤلفین چه ذکر ئې وړاندی تېر شوی دی دخپل وخت او عصر ډېر پیاوړی مؤرخین او د داسی تالیفاتو خاوندان ؤ چه یه ډېره فصیحه ژبه او خوږ عبارت لیکل شوی او د حکمت او فلسفې څخه ډک ؤو .

په دې ډول چه «هردوت» ددې خبری طرف دار ؤ چه د خپل تاریخ کتاب په شعری عبارت ولیکی او «طوقیدید» د تاریخ په لیکنه کښی د تحقیق او اجتهاد او فلسفې طرفدار ؤ که څه هم «اغزینفون» هم په دې نظریه کښی د طوقیدید پیرو ؤ مګر ده دا نظریه او قصد هم درلود چه دده لیکنه دی سر بېره په دغو شیانو په زړه پوری او په داسی خوږ عبارت لیکلی شوی وی چه د پوهی او ذوق د خاوندانو په زړونو کښی ځای پیدا کړی .

لنډه دا چه ددې درو مؤرخینو په وسیله د یونان د پوهی او فضیلت غږ په نړۍ کښی خپور شو او یونان هغه لومړی هیواد ؤ چه دغه ډول پیاوړی مؤرخین پکښی پیدا شول .

په یونان کښی له دې درو پیاوړو مؤرخینو څخه وروسته ډېر مشهور مؤرخین «بولیب ـ هالیکرتاسی دانوس» او ثیودور صقلی او بلو تارکه . نومیږی .

وروسته له دې چه تاریخ په یونانیانو کښې په خپرېدو وپیل وکړ نو هر یو مؤرخ په دې هڅه کښې شو چه په خپل کتاب کښې داسې شیان ولیکي چه نورونه وې لیکلی ددې کار په نتیجه کښې دیونان د تاریخ پخوانی متانت ډېر ژر دمنځ نه ولاړ او په رومانیانو کښې په تاریخ کښې نوی رنګ او رونق پیدا شو ، کوم شی چه په رومانیانو کښې دهغو دزاړه تاریخ دوروسته پاته کېدو موجب شوی ؤ هغه داؤ چه په هغه وخت کښې دوی دیونان د هجائی حروفو سره په پوره ډول نه وو آشنا شوی او له هغو څخه یې په ډېر سست ډول کار اخیسته، بله داچه په ابتداء کښې دیونان د تاریخ نمونې «قبیوس فیکطور او بیزون- قاطون» نومی مؤرخینو ته ډېری مجهولی ښکارېدلې او همدا سبب ؤ چه دې مؤرخینو خپل تاریخونه یوازی دیوداسې دفتر په شکل ولیکل چه په هغه دفتر کښې یوازی واقعات قیداو لیکل شوی وی نه د تاریخ حقیقی کتابونه .

له دې کبله تاریخ په دوی کښې د «سالسته» نومی مؤرخ تر وخته پوری په یوداسې حالت پاته شو چه عبارت ئې ډېر سپور او ستغ او بې خونده ؤ که څه هم « سالسته» په تاریخ کښې دومره لوی لاس نه درلود مګر دده د تاریخ ښه والی او فضیلت داؤ چه عبارت ئې لنډ او مطلب ئې ډېر واضح ؤ لیکن هر کله چه د دې ملت د مدنیت په لور په ترقی پیل وکړ او دوی درفاه او تمدن سره په پوره ډول آشنا شول او دیونانیانو ښارونه ئې لاندی کړل او د یونان علمونه «رومیته» نومی ښار ته ورننوتل نو په دغه وخت کښې دیونانی تاریخونو نومو ړی نمونې ډاګی ته راووتلې او رومانیانو مؤرخینو ددې خبری کوښښ وکړ چه دوی خپل تاریخونه دیونانیانو د تاریخ په ډول او طریقه ولیکی ؛

ددی مفکورې په اساس ددوی تاریخی تالیفونه دیونان دتاریخی تالیفو نو په اسلوب اوطریقه روان شول که په دې دواړو تاریخونو کښی کوم لږ و ډېر فرق لیدل کېده نو هغه یوازی دعادتونو اودودو نو او اخلاقو مسئله وه او بس ؛ مګر باید له دې حقیقت څخه هم ستر ګی پټی نکړای شی چه ددوی تاریخ هم په ډېر فصیح عبارت لیکل شوی ؤ او په دوی کښی هم ډېر لوی او پیاوړی مؤرخین تېرشوی دی .

« سالسته » هغه نوموړی لومړی مؤرخ ؤچه اول ئې په دغه اسلوب خپل تاریخ ولیکه اوله ده نه وروسته لږه موده وروسته « تیتلوه » نومی مؤلف پیدا شو ؛ څو ك وائی چه دا شخص په « بندو » او څو ك وائی چه دا شخص « ابونه » نومی ښار کښی پیدا شوی دی ؛ دې شخص ډېر ګټور آثار تالیف کړی دی چه ډېر مشهور ئې تاریخ رومانی نومی تالیف دی ، دا تاریخ د « رومیته » نومی ښار د تاسیس دزمانی نه وروسته په آستریا کښې د « دروزوس » نومی قیصر د مرګ تر وخته پوری لیکل شوی دی او دا مؤرخ په سنه ۱۷ میلادی پیړۍ کښی تېر شوی دی . پوهان دده په تاریخ داتنقید کوی چه دده تاریخ سر بیره په نورو عیبو نو افسانوی رنګ هم لری

له ده نه وروسته د مسیحی تاریخ دلومړۍ پیړې په اواخرو کښې « تاسیت » نومی شخص پیدا شو ، دې شخص به تاریخ ته دادب او ښه سلوك او اخلاقو دمعیار په اندازه اعتبار ورکاوه ، او دا ځکه چه دې شخص خپل تاریخ په یوداسی وخت او شرایطو کښی لیکلی ؤ چه په هغه وخت کښی بداخلاقیو او بې باکیو ډېر عمومیت پیدا کړی ؤ او له دې کبله دې شخص په خپل کتاب کښی ددې شیانو ډېره غندنه کړی ده .

له دې مؤرخ نه وروسته په هغه وخت کښې چه بربر یانود (رومیته) په مربوطاتو دسنه ۲۴۱ م کال په ابتداء کښې په یرغلو نو پیل و کړ نو داملک هم لکه دیونان غوندې مخ په انحطاط روان شو، تر څو چه داملک د بربر یانو له خوا په سنه ۳۹۵ م کال کښې و نیو لای شو اوددې کار په نتیجه کښې لکه د نورو علومو غوندې په دې ځای کښې هم د تاریخ مقام د برقیت شو ځینې مؤلفین په خپلو تالیفونو کښې لیکي چه دا امپراطوری د (رومیته) د قیصرانو په وخت کښې یوه داسې امپراطوری وه چه لکه د تاسیت او بلوتارکه غوندې خپلو پیاوړو مؤرخینو باندې به ئې فخر کاوه، له دغه کار نه وروسته په دې ملک کښې نه کوم لاتینې مؤرخ پیدا شو او نه پکښې کومه مهمه کار نامه پیښه شوه، مګر په دغه ځای کښې ځینې داډول خلک پیدا شول چه هغوی به څوړ وله تاریخونه لنډ او مختصر کول یا په بل عبارت د نورو تاریخي کتابونو اوږده عبارتونه به ئې لنډول مګر په دې خلکو کښې ځینې داسې خلک ؤ چه هغوی به د پاچاهانو تعریفونه او تملقونه کول او ځینو به د د ائرو اود فترونو نواقص او عیبونه لیکل او یا به ئې د حکومت مشکلات او یاد جنګونو قصې لیکلې ترڅو چه په څلورمه مسیحي پیړۍ کښې دالوی مملکت په دوو قیصریتونو یعنې غربي او مشرقي قیصریتونو وویشلی شو په دغه وخت کښې په دې ځای کښې یو «امیان مرسلین» نومی مؤلف موجود ؤ، دا مؤلف د علمي مقام په لحاظ د «تیتلوه» او «سلوست» انډول اوددغه ځای وروستي بت پرست مؤرخ ؤ، له ده نه وروسته نور داسې مؤرخین پیدا شول چه هغوی به د یو یو کال واقعات راغونډول مګر د شرقي قیصریت سلطنتي مرکز له داسې ښکلو او په زړه پورې مو ادو څخه خالي ؤ چه تاریخ د هغو په مرسته جوړیږي لکه هغه حوادث

اوواقعات چه باید دتل دپاره دهغو یاد محفوظ وساتلی شی اویاداسی لوړی کارنامې اوجګ آثار چه باید هغه پخپله خپاره کړی شی اویائې پهشا او خوا کښې خپرونی وشی، سربیره پهدې پهدغهځای کښی داسی پیاوړی مؤرخین هم نهوچه هغوی ددې فن دپاره مناسب اولازموی، سربیره پهدې پهدغه وخت کښې دحکومتی سلطې او او هامو پهمقابل کښې رای اوفکر هیڅ قدرت نهدرلود.

ځینی مؤلفین لیکی چه سرهددغوټولو خبرو دادډیر تعجب اوحیرانتیا ځای دی چه پهدغه وخت اوشرایطو کښی هم ځینو پیاوړو مؤرخینو ځینی داسی معتبر اوپهزړه پوری تاریخی آثار لیکلی دی چه ترنن ورځی پوری دانګلستان پهکتابخانو کښی محفوظ پاته او ساتل شویدی پهدغو آثارو کښی دوههغه قیمتی مکتوبونه هم شامل دی چهد قسطنطنیې دیوان ددوهم قیصر ثاودوسیوس اودیوستنیانوس پهعصر اوزمانه کښې لیږلی ؤ

پهدغو رسالو کښې په یوه رساله اومکتوب کښې لهسنه ۴۳۳ څخه تر سنه ۴۵۳ پوری دهغهعصرد پاچاهانو حالات لیکل شوی دی شاید چهدارساله دقسطنطنیې هغه تاریخ وی چه «بروسقوس» البینومی لیکلی دی، اوکه دوی ته دنونیوس ټوله اوپوره قصهلاس ته ورشی نوپهدې صورت کښې بهدوی تهددوهمی رسالې اومکتوب پهذریعهدیمن اوحبشی دپخوانی دور پهخصوص کښې ډیرپوره اوصحیح معلومات پهلاس ورشی اودا ځکه چههمدا نونیوس دیوستنیانوس نومی قیصر لهخوا پهسنه ۵۳۱م کال کښې ددې دپاره حبشی اودعربو حمیر نومی قبیلې تهلیږلی شوی ؤچهدغهخلک دفارس دپاچا قباذ اوددهدزوې انو شیروان پهمقابل کښې ددهسرهمرسته وکړی اوهمدغهرازدکالنیو حوادثو راغونډول اولیکل دی چهدغهکارددې حکومت پهدوره یعنی

دپنځمی پیړی نه شروع او تر اوومی او یا داتمی پیړی تر نیمائی یعنی هغه وخته پوری ئې دوام درلود چه په عربو کښې عباسی حکومت تا سیس او داحکومت په ۱۴۵۳م کال کښی دسلطان محمد فاتح دسلطې لاندی راغی ، ددې حکومت مزیت داؤ چه دتاریخ فن دیوسم انسجام اوتنظیم لاندی راغی ، اوتاریخ ددې وړ شو چه ورو ستی مؤرخین ور څخه د دغی زمانی د حالاتو د معلومولو په لار کښی لږ و ډیر کار واخستلای شی .

مگر تاریخ د هغه وخت نه یوصحیح اومستقل وجود پیدا کړ چه بربر یانو دروما شرقی اوغربی برخی ونیولی نو له دغه ځای اووخت څخه دنوی صحیح تاریخ بنسټ کښیښو ولای شو اوورو سته د نورو علمونو سره ملگری اود نورو علمونو دپراختیا سره دې علم هم پراختیا وموندله .

چاچه ددې ملتونو لومړی تاریخ لیکلی دی هغه دډیرو پخوانیو مؤلفینو یوه پیاوړی ډله وه چه د دغی ډلی او جمعیت ډیر مشهور اشخاص دادی :

بولس - انگرید - گرنادیس - دویا - یورنندیس - گریگور یوس - دوطورس او فروسرد - نومی یو شخص په دغه وخت کښی اروپا په داسی مشکلاتو او مصیبتونو اخته وه چه دغه مصیبتونه دیوولسمی پیړی پورې ورځ په ورځ زیاتیدل ، تردې چه په دغه ځای کښی دتاریخ اومعارف او نورو علومو او آدابو هیڅ اثر پاته نه شو اود تیرو واقعو روایتونه دخلکو څخه بیخی هیر شول اود تاریخ کتابونه پرته دخرافاتی افسانو څخه کوم بل شی نه ؤ مگر په مسیحی اوومه پیړی یعنی په هغه وخت کښی چه دمصریانو اواروپایانو په منځ کښی تعلقات

وشلېدل اودمصر کاغذ چه په « ورق النیل » نوم ئې شهرت درلود په اروپا یانو بندشو نو پادغه وخت کښې اروپایان دی ته اړشول چه دخپلو ضروری کارونو دپاره دخرمنو څخه دکاغذ کار واخلی ، دې کار دار وپا معارف ته ډېره صدمه ورسوله اودې حالت ترهغه وخته پوری دوام وکړ چه په یو ولسمه پېړۍ کښې د ما لو چو څخه دکا غذ جوړولو صنعت میدان ته راووت اوپه سنه ۱۳۴۶م کال کښې خلکو دزړو چیرړو اولتو څخه دکاغذ په جوړولو پیل وکړ وروسته په سنه ۱۴۳۶م کال کښې دچاپ صنعت اختراع شو اوددې کار په نتیجه کښې اروپا دناپوهۍ دتیار وڅخه راووتله اوپه پنځلسمه پېړۍ کښې په ایطالیا کښې دفیلبس دوترلی ـ میشاویل ـ غیشاردین ـ یاکس نروی ـ بولس یوده ـ غوندی پیاوړی پوهان پیداشول اودوی دخپل وطن تاریخونه په ډېر دقت په ډېر وخوږو عبارتونو په ډېر کره اوصحیح ډول و لیکل اوپه فرانسه کښې دروبرت جاجین ، مونسترلیت اولیو پیر دولامرش ـ فیلبس دوکرمینه ـ غوندی پوهان پیداشول چه دیو ولسم لویس په خصوص کښې یې رسالې ولیکلې همدغه راز په شپاړسمه پېړۍ کښې په فرانسه کښې دشوالی بیار تاریخ ـ دمارشال دوفلور نجه رسالې اودګلیوم دو بلای هغه رسالې چه نسبت دلومړی فرنسیس تاریخ ته داسی دی لکه دسولی درسالو نسبت دهغه څلورم هنری تاریخ ته چه دفرانسې مملکت ئې په سنه ۱۵۸۶ کالم کښې ونیو .

دتاریخ په لومړودورو کښې پوهان په دې عقیده وچه بایدیو مؤرخ خپل مسلک بدل نکړی اوپه یو مسلک اوپه خپله نظریه اوفکر ټینګ پاته شی ؛ لیکن هر کله چه احوال په یو حال نه وی او اختلاف پکښې پیدا کیږی لکه چه دایو څرګند حقیقت دی . دمثال په ډول د یخوا نو

خلکو په عقیده اوفکر تاریخ دیو مخصوص قام دذکر او بیان څخه عبارت ؤاو که یو بل قام به پکښې ذکر شو نو دغه ذکر به دیو غرض اومقصد دپاره ؤ همدغه حال درومانیانو په زمانه کښې ؤچه په دغه وخت کښې دنیا همدغه یو مملکت ؤاو پـه دغـه وخـت کښې بل کوم خارجی سیاست نه ؤ اوکه ؤنو ډېر لږؤ ؛ مګر په دې وروستیو زمانو کښې معامله دغه ډول نه ده بلکه دهغو دولتونو معامله چه په اروپائي پرغلونه کړی اوهغه ئې نیوئې وه دغه رار نه وه اودغه کاریو مؤرخ دې کارته اړکوی چه سیاسیاتو ته ښه ځیرشی اوپه خپل تاریخ کښې دقامونو داخلاقواوعوائد وڅخه بحث وکړی، مګر په دی زمانو کښې دشلونه ډېر ملتونه دغه راز بحثونه کوی چه که یو ملت دکوم ضرر اوتکلیف سره مخامخ شی نو نور ټول ملتونه ور څخه متأثر کیږی مګر په نویو اوزړو مؤرخینو کښې دډېر قدر وړ مؤرخ چه دتاریخ په لیکلو کښې ئې دډېرومشکلاتو څخه په حکیمانه ډول ځان خلاص کړی او له دې عهد ې څخه کامیاب وتلی دی هغه (بوسوة) » نومی فرانسوی معلم او مؤرخ دی چه په ۱٦۲۷ م کال کښې په د«یجون» نومی ښار کښې پیدا اوپه سنه ۱٦۴۲م کښې پاریس ته ولاړ او دومره ډېر علمی تالیفات ئې ولیکل چه دعلم انګازه ئې په خلکو کښې خپره شوه او په سنه ۱٦۷۴م کال کښې مړشو داپیاوړی پوه په دې خبره کامیاب شو چه دزړو زمانو او نو یووختونو تاریخونه ئې په یوداسې ښه ترتیب سره جمع اویوځای کړل چه مقصد ته ئې هیڅ صرر نه دی پېښ شوی ، دهمدې پوه مؤرخ په عصر کښې په المان کښې لبینتس نومی یو پیاوړی پوه پیداشو .

دریم قسم یاد تاریخ دعمر دریمه هغه دوره چه تاریخ پکښې دبلوغ

دوری اوعمرته رسیږی هغه عبارت داتلمسی پیړی څخه دی ددې پیړی مؤرخین داخصوصیت لری چه دوی دتاریخ په لیکلو کښی داختصار اوتعمق په لار روان شول اودتاریخ په اجزاؤ کښی ئې اخلاق، عوائد، آراء اوا افکار، مذهبونه، اود بشری ټولنی غرائب اود قامونو د اجتماعاتو اوائل اود دې اجتماعاتو احکام اواصول اوژبی او اولیه صنایع اودقامونو دژوندانه ډول اود هغود عقولو اختلاف اودقامونو دسیاسی اختلافونو هغه ګټی اوضررونه چه دوی ته متوجه شوی دی، اودقامونو دغنا اوثروت او اقتدار اوقوت اساس اودهغود مشاهیرو علمی او عقلی مقامونه اودهغو هغه ښه اوبد او جګ او ټیټ اخلاق اوعادتونه چه دهغو په وطنو نو کښی ئې دهغو په ماحول کښی کوم تاثیر کړی دی اوپه هغو کښی دتمدن اوصنایعو اوعلومو د پرمختګ عوامل کوم اوڅه ؤواونور شیان په نظر کښی ونیول؛ دې ډول تاریخ ته په اصطلاح کښی فلسفی اوادبی تاریخ ویل کیږی او غرض ئې دقامونو دیوبل سره د سیاست اوتجارت اونور وانسانی روابطو په اساس لکه دانسانی اوبشری اوهم نوعی دمینی اونورو علاقو اورابطو په اساس مینه اورابطه پیدا کول دی. داهغه پیړی ده چه په دې پیړی کښی په انګلستان کښی درې داسی پیاوړی مؤرخین پیدا شول چه خپل وطن وربانده افتخار کوی اوهغه عبارت د «ګلیوم، هوم اوزو برتسون» څخه دی، هر کله چه تاریخ دوه غرضونه لری یو داچه مؤرخ دی دخپلی زمانې دخلکو سره مینه ولری اودوهمه داچه هغوی ته دې تاریخ وروښیی او فلاسفه ودوهم غرض سره مینه لرله نوموړی برتسون «اتحاف الملوك الالیافی تقدیم الجمعیات فی اروپا» نومی هغه کتاب مؤلف دی چه دغه کتاب ئې دخپل «اتحاف ملوك الزمان بتاریخ الامپراطور

شرلکان » نومی کتاب دمقدمې په ډول لیکلی دی اوپه دغه کتاب کښی ئې په ډېرو ضاحت هغه مهم واقعات اوحوادث ذکر او بیان کړی دی کومو چه داروپا په سیاسی حالت کښی درومانیه دولت دا نقراض نه دشپاړسمی پېړی ترابتدا پوری داروپاسیاسی حالت دخپل تاثیر لاندی نیولی ؤ، ددې پیاوړی لیکونکی دغه کتابونه په پورته نومونو په عربی ژبه کښی ترجمه اوپه مصر کښی چاپ شوی دی .

همدغه راز په فرانسه کښی هم درې داسی پیاوړی پوهان راخرګند شول چه وطن ور باندی افتخار کاوه اوهغه عبارت د «مونتسکیو ، ولیتر او جانجاك روسو ښخه دی اوپه دې درو تنو کښی ولیتر اوجانجاك روسو هغه اشخاص دی چه په سنه ۱۷۹۳ م کال کښی په فرانسه کښی دیو مشهور انقلاب د پیدا کولو موجب شول اوولیتر هغه لومړی شخص دی چه د تاریخ په لیکلو کښی ئې داختصار ښخه کار واخیست اوخپله دغه نظریه ئې په خپل « بمیل الطوائف واخلاقهم » نومی تالیف کښی په ډېر ښه ډول عملی کړه، لیکن هر کله چه ده په خلکو کښی په فلسفه کښی ډېر شهرت درلود نوده هغو ښوکتابونو ته چه تالیف کړی ئې دی ښوك ډېر اهمیت نه ورکوی بلکه دی خلکو له دې کبله چه په ادیانو به ئې تنقید ونه کول خلکو دوطن ښخه وشاړه اوهر کله چه دی خلکو ته کافر ښکارېده نوهرځای ته چه به ورغی نو چا به ځای نه ورکاوه ، داشخص په سنه ۱۶۹۴ م کال کښی پیداشوی اوپه سنه ۱۷۸۷م کال کښی مړ شوی دی ، او مونتسکیو پیاوړی مؤلف په سنه ۱۶۸۹ م کال کښی پیدا شوی دی ده دتالیفاتو سره ډېره مینه لرله لکه چه دا حقیقت ده په هغو پاڼو کښی څرګند کړی دی چه ده دخپل عمر په شل کلنی کښی لیکلی او دخپل « عظم دولته الرومانیین وانقراضها » نومی

کتاب سره ئې په الحاقي ډول چاپ کړی دی ، دی په فلسفه او سیاست کښې دلوی لاس خاوند ؤ ، دې پیاوړی پوه «روح الشرائع» نومی کتاب تالیف کړی دی دا کتاب د ټولو ملتونو په احکامو او اصولو او آدابو او قوانینو اود هغو په اسبابو او مسببا تو مشتمل دی دا کتاب دشرعی او سیاسی مذهبونو په منځ کښې دیو میزان حیثیت لری دا کتاب په معقول ډول په تحسین او تقبیح مبنی دی اودی دار و پا په خلکو کښې ددوهم ابن خلدون په نوم یادیږی او ابن خلدون عربی مؤرخ ته دشرق مونتسکیو وائی دی د« مراسلات الفارسیه »په نامه یو بل تالیف لری دده دا تالیف یوه داسی تله ده چه په دغه تله کښې ئې دشرق او غرب دخلکو عادتونه تللی اودهریو محاسن او قبایح ئې بیان او ښکاره کړی دی .

دادوه یعنی مونتسکیو او ولیتر هغه دوه شخصیتونه دی چه په تاریخی تعلیم کښې ئې ډیرلوی تغیر راوست او داځکه چه دادوه هغه لومړی شخصیتونه دی چه دتاریخ دلیکلو څخه ئې هغه مشکلات لری کړل چه دتاریخ په پوهېدلو او پرمخ تګ کښې ئې د خلکو د پاره مشکلات پیدا کول .

د ادب پېوستې

دغه پښتنی ترانه موږ ته
ښاغلی خان غازی له ډیلی ئه
رالیږلی ده.
چه ده د پښتون مجلی د ۱۹۴۰
کال دا پریل دمیاشتی له ګڼی
څخه اخیستی ده مونږ یې په ډیره
مینه حپروو.

خوږې ځمکی دافغان

د تورزنو ځلمو مورې

نشته چرته ستا په شان — غیرت ناکې ځمکې نورې
تل ژوندی دې وی ستا ځان — د پښتون د ننګ غم خوری
دی ځامن د ستا نران — یې پرته د مینې سوری

✲ ✲ ✲

ټولې ځمکې په اسیا کښې — دی سر ټیټې ستا په پښو کښې
راټو کیږی سره زرتا کښې — په هوا یې الوتو کښې
په تاریخ ټوله د نیا کښې — لکه لمر یې ځلیدو کښې
تاج په سر یې درست جهان — ستالو یی به نه کری هیرې

ستا بچی په ناز پاللی دی د لوی نوم خاوندان
په خپل کلك همت ښاغلی د غیرت د حیاکان
ستر ناکی دی ساتلی پاکی لوڼی په ښه شان
ته په دې صفت د ځان
تل لرونکی دډیر زوری

دی سر کښته ټول عالم ستا د پاکو خو یو شان ته
هر طاقت ؤ په ملاخم لاس په نام افغانستان ته
ته په خپل نظام محکم رابلی خلك خپل ځان ته
ککرۍ د ټول جهان
د تهذیب تا ته نسکورې

ځیء چه غونډشو پاڅو زر کړو ځان د خپل وطنه زار کړو
خپلې وینې او به خور کړو مړاوی باغ د ملك بهار کړو
پښتانه یو شو ګو زر کړو غلیمان کټ کښې ایسار کړو
بیا د نیا ته کړو عیان
د پښتون نامه راپورې

د سلطان شهاب په شان د پښتون د لوی د هشته
کړو زمری په غار پنهان ویریدونکی تر قیامته
شی له ځمکی تر آسمان د پښتون نامه اوچته
چه شو ورونه یو کړو ځان
پریږدو نورې کینې سپورې

سکه ورو ڼو ځیء چه یو شو لاس ترلاسه سره ورکړو
د مطلب په لور په دو شو حکومت په بحر و بر کړو
په یو نا او په یو هوشو یو زړه ور پښتون رهبر کړو
کړو په خپل نر توب ګویان
غیر قومونه په هر لوری

بیا چه و ښا یو ځانونه شو محکم لکه زنځیر ؟
په ایمان واخلو لوزونه د خپل کور و کړو تعمیر
د یو خدای منو حکمونه یو مو دین یو مو جاګیر
کړو قومونه په یو آن
دوباره ځان ته ښه ګوری

د کابل پښتو ټولنه د پښتون د ښه وقار
دوباره وکړو پالنه ټول پښتون کړو رابیدار
د غلام حیدر د زړه نه خیژی د اچغې په جار
مه شه ورك افغانستان
شه د ښمن یې سترګې کوری

سید احسان الله هیر

ذهنیتونه او قضاوتونه

موږ د اعادت لرو چه تل څو تنه سره یوځای شو نو په روان جریان باندی بحث کوو د اهیڅکله نشی کیدلای چه د انسان ذهنیت دی د محیط او د وخت د اجتماعی سیر او جریان تر تاثیر لاندی رانه شی بلکه زموږ ذهنیت او زمونږ ټول افکار په حقیقت کښې زموږ د محیط او ماحول محصول ګڼل کیږی مګر سره له دې هم باید مونږ زیار و کاږو چه په ځینو موضوعاتو چه بحث کوو باید تر یوې اندازی د مفکورې استقلال ولرو او قضاوت مو باید بیطرفه وی زه ډیر ځله داز لمو په مجلس کښی له دې خبری سره مخامخ شوی او ورته ځیر شوی یم چه څه وخت چه څو تنه زلمیان دیوې موضوع په اطرافو کښی بحث کوی نو په بحث کښې ډیر لږ داشی مخی ته راځی چه ټول دې دیوی موضوع په باب د نظر وحدت ولری بلکه له دې شی سره سړی ډیر مخامخ کیږی چه په بحث کښې څو تنه دیوی موضوع د پاره یوه خوانیسی او څو تنه یی بله خوا یعنی که یوه ډله دیوې موضوع په اطرافو کښی غواړی چه مثبت دلایل وړاندی کړی نو بله ډله خامخا زیار کاږی چه د همدغی موضوع په باب منفی دلیلونه وړاندی کړی او د موضوع ضعیف اړخ باید

ونیسی. پهداسی وختو کښې زه ډیر دی حقیقت ته ملتفت شوی یم چه په دغه سلسله کښې ډیر زلمیان آزاد قضاوت پریږدی او دخه اوخه دپاره یوه خوانیسی. مثلا که موږ غواړو چه خو تنه زلمیان دمحمود پرژوندانه بحث وکړو که محمود د دولت یو رسمی مامور وی او وغواړو چه دده په کار او فعالیت باندې بحث وکړو نو هغه وخت چه د محمود د نوم واخستل شی هر یو ته یوه مفکوره پیدا کیږی موږ یو تن فکر کو و چه: بنه محمود خوز موږ دځای دی که دی په خپل ژوند کښې د کار بنه خواولری یا یی ونلری که دی د کار په ساحه کښې دفعالیت خاوندوی که نه وی مګر ددې دپاره چه زموږ اوددې ځای سره نژدی دی باید حتما دی بنه وستایو زموږ له ډلی یو تن بل بیا وایی چه محمود خوز ما د آشنا ورور دی که دی هر خومره په خپل ژوندانه کښې کمزوری جنبې او تیاری خواوی ولری باید زه خویی بنه وستایم ځکه که زه دده هغه بد اړ خو نه چه ما ته معلوم دی وغندم او زما آشنا خبر شی نو له ما به زړه بدی شی که په دغه مجلس کښې اکثریت ددغسی خلکو وی چه د محمود دژوندانه بنی خواوی او نیک اړخونه یی ستایل نو نو ریی تر تاثیر لاندی راځی او که محمود ډیر اجتماعی معایب هم لری ستر ګی پرې پټی شی او له محمود نه هغه څه جوړ شی لکه سړی چه کارغه ته تاؤس ووایی. یاددې په خلاف مونږ د شخصی غرضونو دپاره د ډیرو اجتماعی انسانانو دژوندانه په برخه کښې قضاوت کوو او دیو څه یا بل څه له تاثیر لاندی راځو.

زما بنه یاددی چه ما سره یوه ورځ زما یوه ملګری د یوه د اسی اجتماعی انسان په باب چه اجتماعی بنیګڼې یی ټولو خلکو ته د لمر په څیر معلوم ؤ دژوندانه بنه اړخونه ستایل زه هم په دې خبرو کښې

له دې سره متفق وم او داینځر دګل په څیر دملګرو سره د بحث په وخت کښې داشی مخی ته راغلی ؤ چه موږ دوه تنه دی دیوه انسان دژوندانه په باب د نظر وحدت ولرو مګر څو موده وروسته می چه خپل همدغه ملګری ولید دهماغه انسان په باب ډیر بد نظریات ورسره موجود وو.

زه په دې خبری قانع یم چه انسان باید بد ته بد ووایی او ښه ته ښه ووایی.

که د سړی سره یو چا یو وخت ښه کړی وو دهغه ښه دی و ستا یی مګر که بدیی وکړل د بدو په مقابل کښې به هم طبعاً خوا بدی کیږی نو له دی کبله ماله خپل ملګری څخه پوښتنه وکړه چه ګران ملګری! کوم څیز د دې خبری عامل شو چه ته د هغه سړی په باب بد نیته شوی او بدیې ستایی آیا تاسو ته په مستقیم صورت د هغه سړی له خوا بد رسیدلی دی یا تاسو پکی ځنی څیزونه و ینیء چه ټولنی ته یی بد او ضررونه رسیدلی وی او یا ستاسو د منافعو په لار کښی یی کوم خنډ پید کړی دی!

زما ملګری ماته وویل چه نه ـ نه اشنازه هغه بله ورځ دخپل یوه دوست په مجلس کښی حاضروم نورګن خلك هم حاضر وو دغه سړی دخلکو محاسن او معایب ښه پیژنی او باید ښه یی وپیژنی ځکه ډیر غټ سړی دی نو همدغه زما دوست هاغه نوموړی سړی ډیر بدوستایه نوزه وایم چه په رښتیا سره به هم داسړی ډیر اجتماعی نواقص او معایب ولری ماو رته وویل چه ګران ملګریه! ستا په ار اد و باید بل څوك لو بی ونکړی ته باید د مفکورې استقلال او د قضاوت حق ولری.

که ستا هغه د وست چه غټ سړی و د دغه بل سړی په باب یی بد ویل عوامل به یی درلو دل یا به یی مستقیماً بدور رسید لی وی یا به یی هغه

رنګ یو کارکړی وی چه دده دمشروع یاغیر مشروع استفادې په لار کښې مانع شوی وی یا به بل څه وی نوچه هغه بد و ستا یه ایا ته یی هم بدستایی ؟

داخودا معنی لری چه ته دهغه دتاثیر لاندی راغلی اوخپل قضاوت دې ضعیف وګاڼه اوډیر ژر تسلیم شوی اوحتی په خلپه ته داسی ثابتوی چه ته دقضاوت استعداد نه لری زه په دې برخه کښې داادعا نه کوم چه زه دچاتر تا ثیر لاندی نه راځم ترڅو چه په نړۍ کښی انسان ژوند کوی دمحیط اوما حول له تاثیر نه نشی خلاصیدلای مګر دا وایم چه کم ترکمه باید په قضاوت کښی انسان په خپله فکر وکړی او دا رنګه یو ذهنیت ورسره موجود نه وی چه که زه فلانی ته دهغه اجتماعی نواقص وایم نو دوست می دی خفه به شی او که بل څوک یی داجتماعی نواقصو غندنه کوی نو مونږ سره له دې چه په زړه کښی پوه یو چه رښتیا وایی مګر دد وست اود وستی ترتاثیر لاندی یا به هیڅ نه شو ویلای او یا به دنا حقو شیانو دفاع حمایه اوپشتیبانی کوو، که مراعا تونه او اجتماعی جریان له مونږ نه دقضاوت حق سلب کړی نو مونږ به له یوه متحرک کالبوت نه په جامعه کښی بل حیثیت نه لرو اوتل به دنورو داراد ودپاره استعمالیږو .....

ښاغلی سما یوسفزی

دوظیفی اجراکول

هیڅکله دومره ډېره واوره نه وه وریدلی، خوما عزم کړی چه نن به خو ځیږو.

داسوړ باد، سخت ساړه مګر سره له دې ټګ مو په مخه کښې دی.

ـ که نن ورځ مودلته تیره کړی وای ښه به و! ښایی مګر مونږ خپل ټګ نه ځنډوو.

ـ یواس دی که دواړه ورباندې سپاره شو نو پر دې ځا روی ناروا ده.

ـ هیڅکله پریوه اس دوه کسه نه سپریږو. اس می تاته در پرې ایښی، سره بیره پردې ته کولای شې چه نن ولاړ نه شی او کومه ورځ چه ښه درته ښکاره شوه راشه!

ـ ډیره سخته ده چه دومره اوږده لار په پښو ووهی ء واوره تر زنګانه رسیږی داسی سوړ باد له مخې را الوځی چه سړی اړوی تاسو پر خپل عزم یو بل فکر وکړیء!

ـ فکر همدغه دی چه همدا نن روانیږو!

ـ زه ستاسو په مخ کښې هیڅ نه شم ویلای او دادی درسره ځم!

ـ ته څومره کالی لری؟ دوه وړین کمیسونه یوواسکټ ، دایوه کرتی دابل بالاپوښ، دغه یوپوستین، یودغاړې لوی دسمال، یوهم داشړی اولاس کلې .

ـ ته دا ټول واغونده، تودې موزې هم لری اوپراس سپور شه، زه به خپل لاسونه په جب کښې کړم یو وړین کمیس کورتی او بالا پوښ می بس دی .

ـ ستا سودې سړوته پام نه دی دسړی سادروی .

ـ ستا کالی ښایسته ډېردی اوته زماغم مه لره .

ـ اجازه راکړی ، ځان چمتو کړم اوپراس زین کښیږدم.

ـ ورځه ژرشه !

دوی له کوټې ووتل اوویی ویل : ته راپسی راشه، په واوروکښې ګډشول، لاسل دوه سوه قدمه نه ؤ تللی، چه زه پر اس ورورسیدم.

دومره می ځان پټ کړی ؤ چه وروخبرې می نه اوریدلی سوړ باد له مخې را الوت اوکله به چه باد په زوره شونو ډېرې واورې به یی راوشیندلی، ډاګونه، غونډی ټول تر واورو لاندی ووچه د سړی ستر ګې به یې وړې ، زمو نږ ترسر پو ری د بریښنا یومزی غزیدلی ؤ چه موږ ته به یې لاره راښودله اوکه نه ، دلاری میندل هم یو کړاو ؤ .

تاوبه چه له خولې ووت سمدلاسه به د بریتو پرویښتا نو سپینه پرخه شوه د دوی تور بریتونه یې سپین کړی وو، لاسونه یې په جب کښې غوږونه لوڅ دځمکی دسرو اوره ترزنګ نو اوښته، پر بغویی سپینې پرخې نښتې وی، ماهیڅ نه منله چه دومره ټینګ سړی به هم پیدا کیږی .

ویی ویل: مونږ لاره جوړه کړه که نور څوك هم راتلل ور ته اسانه به وی

-زه یقین لرم څوهوالږه ماته نه شی څوك له کوره نه شی وتلای.

-ستا په زړه که وای نومونږ به هم نه وتلو او دخلکو هغه کارونه چه په ماپورې تړلی دی ټول به ویجاړ پاتې وو او دغومره کړاو چه موږ ته پیښ شوډیرو وګړو ته پیښ شوی ؤ

✲ ✲ ✲

کله کله به سخت سوړ بادراوالوت او واورې به یی له مځکی جګولی، چه مونږ به اړشو چه دباد ترتیریدو مخ ورڅخه واړ وو. ددوی غوږونه شنه اوښتی وواوزه پوهیدم چه څومره زورورساړه دی. زما وجود سره له دې چه ډېر کالی می اغوستی وو له کالیو بیل شو اوسخت ساړه می کیدل خو دوی ته می چه کتل، نوزه به هم لږ ټینګ شوم اوڅه به می نه ویل، کله چه به باد والوت نوزموږ دپلو ځایونه به یی پټول.

ماسره دلیوانو ویره ډېره وه خودوی له دې پلوه هیڅ اندیښنه نه درلوده څو ځایه کلی ښکاره شول، زما به زړه کیده چه ورو ګرځو اوپه کوم جمات کښې ځانونه تاوده کړو خود دوی خو ښه نه وه اوویل به چه ورځه ځان تودکړه زه درته ولاړیم نوزه به هم له دې خبرې واوښتم، څوواري می ور ته وویل چه دلږ وخت دپاره پراس باندی سپاره شیء ویل به یی چه هغه خپله په کړ او قدم اخلی اوزه یی بارنه درنوم، او که ستا سپریده نه وای نوزه داس له راوستو سره مخالف وم.

✲ ✲ ✲

څومره چه زمایادیږی دادښتې هیچکله په ژمی کښې بې لیوانو نه وی.

خونن لکه-چه- چاشړلی وی ، لاره مې ورو ورو لنډ وله اس هم خولې شوی ؤ اوپه کړاوبه یی قدم جګاوه .

په دې کښې یوه کلی ته ورسیدو، په دې ساعت کښې چومو نږد کلی له مخه تیریدو، څو کسه سړی چه له جماته راووتل، اوپه ډېر تعجب یې وپوښتیدو ستړی مه شیء وروڼو! له کومه را خوځیدلی یاست؟

له کوټکی، ها .. بلامو کړی ده، چیرته له خیره ځیء ؟ ښارته راځیء وګرځیء جمات ښه تو ددی ځانو نه تاوده کړیء شپه تیره کړیء اوس ماسپښین دی تر بیګانه شیء رسیدای .

زما بیخی زړه کیده چه همداسی وکړو خو دوی ځواب ورکړ خیر یوسی کارونه مو ډېردی پاتې کیدای نه شؤ دخدای په امان.

-ښه چه نه پاتې کیږیء نو په خیر ولاړ شیء .

✡ ✡ ✡

دوی وویل ډوډۍ دې له جبه راوباسه اوپه لاره یې وخوره! ماپه ډېر کړاوډوډۍ له جبه راویسته اوپه خوړلو می پیل وکړ، دوی هم لږ څه شی وخواړه اوماته وویل چه ستادپاره څه زحمت نه شته له کلی لاډېر نه یولیری شوی بیرته ورو ګرځه پرته له دې هر ځای کښې دې چه خوښه وه پاتې شه .

ماکه څه هم نورتوان نه درلود خوددوی یوازې پریښوول لویه ګناه راته برېښیده دوی په لو مړی سر کښې راته ویلی وو چه ته کولای شې چه نن ونه خوځیږې او ماهلته هم داخبره نه وه منلی .

✡ ✡ ✡

موږ دواورې په منځ کښې روان وو. اس ستړی ؤ قدمو نه یې کاږه واږه کیدل له هغه کلی مو فاصله زیاته شوې وه دوې وویل چه باید داس دهوسا یې دپاره لږ ساعت چیرته دمه جوړه کړو.

په همدې وخت کښې مو په لاره کښې یو شی ولید، داسی بریښیده لکه چه کوم ورې لویدلی وی، چه ورنژدې کیدو دسراو پښو پیژندنه پکښې وشوه. موږ و پوهیدو چه کوم بې وزلی لاروی له پښو پاتې او دلته پروت دی ورورسیدو چه ګورو یو سپین ږیری سړی چه اوږده نرۍ ږیره، وچه جګه پزه یې درلوده خړ بالا پوښ یې اغوستی ؤ؛ دواړه لاسونه یی دورنو تر منځ نېولی وو سراوزنګنونه یې سره نژدې کړی وو پټکی یی څو پټه پر غوږ تړلی ؤ او سترګې یی ورورر پولې.

دوی ځان ټیټ کړ او هغه یې راکښیناوه خوله خبرو پاتې ؤ او له ځانه یې هیله شکیدلې وه.

دوی پوهیدل چه سا په کښې ده.

ماوویل خپل وخت باید دې بوډا سره له لاسه ورنه کړو.

- ته له دې خبری څه مطلب لرې؟ زه وایم که واړ شو ښه ده ځکه دا سړی له لاسه وتلی دی مونږ باید ځان مزله ته ورسوو؟

- ما داسی ګومان کاوه چه ستا بې لوری یو ازې پر څارویو او حیوانا تو باندی ده، خو وپوهیدم چه ته د انسانانو په برخه کښې هم بې رحمه یی. ژر به کښته کیږی او دا سړی به پراس سپروی.

ما هیڅ ونه ویل له اسه راکوز شوم او له دوی سره می سپین ږیری پراس سپور کړ.

اوس دا سړی ځان ټینګ نه شی نیولی، ماوویل چه که زه دی ټینګ ونیسم نو اس به څوك بوځی؟

- زه اس له جلبه نیسم او بیایم یې ته بوډا ټینګ ونیسه چه ونه لویږی.

زما لاسونه او دپښو ګوتو له یخه سوی کاوه او ددوی په لاس کښی لاسکلی هم نه وی داس جلب یی نیولی وو ما له ځانه سره ویل که لکه دغه

سړی لس کسه پراته وای نو ما به یو هم نه وسپور کړی

زموږ حال له خطر سره مخامخ شو دلمر سترګه کښیناسته او ما ښام رانژدې شو دوی ته می وویل چه که پخوا یو تن مړ کیده اوس به دری تنه مړه کیږی ویی ویل چه ما ته تر دې سړو واورو او ټولو ته یو لوی زحمت یی اوزه داټول زغملای شم او یوازې تا نه شم زغملای .

ماځان په زوره غلی کړاوڅه می ونه ویل

هیڅ ژوندی ژوی نه لیدل کیږی ما سره بیا د لیوانو ډا راپیدا شو خو دوی ته می یاد ولای نه شو دوی یوازې خپلی لارې ته کتل دا پلو او ها پلو ته یی پام نه وزه پوهیدم چه ددوی له پاره دلیوانو ډار یو بی ځایه فکر دی زه په خپل زړه کښی له خپله راتګه سخت پښیمانه وم او هغه لومړنۍ خبری می په فکر کښې نه ګرځیدې .

مونږ په هغه ویجاړ حالت لاره وهله چه سپوږمۍ دغره له شاښکاره شوه مړې وړانګی یی پر واورو راولویدې او یوه رڼا دو اورو له مخه جګه شوه چه د سپینو زرونړۍ یی جوړه کړه .

دوی وخندل او ویی ویل دا هم دا سمان مشال اوس نو لږ زړه در ټول کړه خپلی ګړۍ ته یی وکتل ویی ویل چه نیم ساعت وروسته خپل لومړنی مزله ته رسیږو او دا سړی به یوه تو دجمات ته روسو و موږ به هم لږه دمه جوړه کړو او بیا به ځان تر کوره ورسو و ما ورسره ومنله او په زحمت مو ځان مخ په وړاندی کشاوه د کورونو د څراغو نور ڼاوی ښکاره شوې او و پوهیدو چه څه نه دی پا ته .

دجمات څراغ لا بل و ټیټه درنده دروازه یی وه پر ملا موغږ کړ چه دروازه راخلاصه کړیء بې له دې چه ووایی څوک یی دروازه یی خلاصه

کړه السلام علیکم توره ببره بږیره، په ځان هم ښه جوړ سپین. کمیس او پرتوګ یی اغوستی وچه کتل یی په دووکسومو بوډا نیولی او سمدلاسه ورننوتو لږ وار خطا شانته شو او ویی ویل په خیر راغلی ځه قصه ده ؟

- خیر دی دغه بوډا په لاری کښی پاتی ودمر ګ په حال کښی و راوا موخیست چه دلته لږ تود شی. سپین ږیری مو د تاو خانی پر تیږی وغزاوه ملاغلی حیران ودرید.

دوی څو روپۍ له جمه راوویستی او ملاته یی ورکړې کله چه بوډا په حال راغی نو هغه دې ورکړی.

ملاوویل یو څو دقیقی ودریږی ځکو ندې لږ غو ندې بیدار شی ښه دی، د ملاصاحب کتاب هغسی د چوترې پر مخ څوړیدلی ؤ.

ویی ویل چه له کومه څنګه راغلی یاست ؟

- موږ دلیاری نکل ورته تیر کړ، دی هم پوه شو چه موږ د ټول کړاو د شخصی ګټی له پاره نه دی زغملی، نو دده سر هم لږ غو ندی خلاص شو او نوریی ډیر په احترام خبرې کو لې په د ې کښی و چه سپین ږیری پښی ورټولی کړی او دزګیروی غږ یې جګ شو، درې سره بوډاته ورنژدې شوو.

غږ مو پرې وکړ. اکا څنګه یی ؟ ښه یم خدای مو وبښه د نیا او آخرت دی خدای د رسم کړی.

- چیرته روان وې ؟ ها ... ګورته روان وم سړی له ناکامه هر څه کوی ځلمی زوی می یو په یو نا روغ شو، مړې خولې ورباندې وبهیدې مور او خور یې ځانونه له ژړانه مړه کړل.

مادښار خواته منډه راواخیسته چه چاته ووایم اوڅه دارودرمل ورته واخلم ، وخت څه وخت دی ؟ ماسخوتن به وی دخدای له پاره اوس به مړوی ؟

خیر دې خدای پیښ کړی نن شپه پاته شه سبا دې دار وواخله او کوم ملګری درسره پیدا کړه !

روپۍ می لږ دی، دوی ملا ته وکتل، ملا پوه شو، پیسی یی بوډا ته ونیولی ، بوډا بیاژړغونی دعاوکړه د خدای په امان راووتو سبا په ښار کښی خلك خبر شول چه ... دوظیفی له سر ته رسو لو بیر ته راورسید . پای

له سویت لیټریچر څخه . ددولت محمد لودین ترجمه .

دجبو خلک

دغه سیمه دیو ټاپو په شان وه، ډیر وخلکو به ورته ټاپو وایه . په دی باندې دسیندیا چرې او به تېرې شوې نه وې ځمکه یې او بړیو یا هغو ځنګلونو احاط کړې وه چه داو بو په تالاو کښې به ولاړوو .

ددغې سیمې په جګو برخو کښې دباغونو او ترکاریو کار او فعا لیت روان ؤ ، چه په ځینو ځایو کښې باغونه کښته جبو ته رسېدل شمال لورته ځمکه له شګلنتوب څخه لږه لږه خلاصېده دسنو برځنګلونه شروع کېدل چه په آخر کښې هد پرې ته رسیدل لویدیزه برخه یې مخ په ځوړه وه ځنګلونه یې په سمسور موسم کښې هم ژیړ زبېښلی ښکارېدل نو ځکه ځمکه یې خواره وه ، خو دومره شګلنه نه وه لکه نوری برخی چه وې .

سویلې خوا یې مخ په لوړه وه چه دځمکې مخ یې په وابنو پوښل شوی ؤ ، دغه برخه ددې دپاره وړوه چه له نورې نړۍ سره لیکونه اومکا تبې جاری وساتی ځکه دغلته یو سرک هم جوړ شوی ؤ ، خلک به په خپله سوچ وکړای شی چه سرک به یې څه رنګه سرک ؤ ، ځکه دغه برخه چه لږه ښه وه ، هم که څو به ور باندې تېرېده ځمکه به خو ځپده یعنې خوځنده ځمکه وه . په دغه سرک دنورې نړۍ سره هغه وخت تماس

پیدا کیده چه ژمي به ؤ ، اوټوله ځمکه به کنګرك وه یا په اوړی کښې چه کنګرك به ویلې شوی ؤ ، او ځمکه به وچه وه .

د کال په زیاتره برخه کښې دغه کلی داسې ښه برېښیده لکه چه د نورو کلیونه بېل شوی وی . مګر که حقیقتاً د نورو کلیو سره مقایسه شوی وای ـ ښایسته او په زړه پورې ورځی پکښې ډېرې لږې وې ـ ځکه پرته له ډېرو لږو وختو څخه په نورو وختو کښې ـ که ډاګې به چاته دزوی یا ورور له خوالیکو نه راوړل ـ ترزنګنو به په بوختو کښې روان و ، که څه هم کڅوړه به یې په اوږه کښې اچولې وه او ترزنګنو به په بوختو کښې په هلو ځلو کښې و ، خو دغه حال یې هم مناسب ګاڼه . هغه وخت به چه کال بارانی ودنورې نړۍ سره به بیخی تماس وشلېد ؛ او دغه وضعیف به ترمیاشتو میاشتو دوام درلود .

په تیره په هغه وخت کښې چه او بلنه واوره به اوریده یا به باران ؤ ، دغه ټاپو ته تګ اوراتګ ناممکن و ـ داسې معلومیده لکه د کمره یوه برخه چه نړېدلې وی او د سیند په اوبو کښې پرته وی . په داسې ناوړه موسم کښې دوی په همدغه ارزوستر ګې غړولې که له کومې خوا برېښنا وپرکیږی چه دغه تیاره ماښام ورباندې سپین سباشی .

که څه هم په دغه کلی کښې ګوزاره ډېره ګرانه او مشکله وه خو دد غه ځای اوسېدونکو ته ډېره سخته نه ښکار پده ځکه دوی ورسره بلد وو ؛ له بلې خوا دوی داسې خیال کاوه هغه کلی چه د دوی په شاوخوا کښې پراته دی ـ هغه هم همدغه شان په جبو کښې پراته دی او په همدغه څېر خپل ژوند تېروی ـ ځکه دوی دهغو څخه پوره خبر نه وهغوی ورځنې شمال ، جنوب ، لویدیز او ختیز ته څو کروه لرې پراته وو .

د دغه کلی خلك به په ژمی اواوړی ـ سهار او مازیګر په کورونو

کروندو ، جبو او ځنګلو کښې په کار او فعالیت لګیاوو .

دجون دمیاشتې په یوګیځ چه د(کرینې) دکلی خلک له خو به ویښ شول - کله چه دلمر وړانګې دځنګلو په ځو مبکوو لګېدې او بیا پر ځمکه وغوړېدې - له هغو کورونو څخه چه ورونه یې بېرته وو دغواګانو دلوشلو خواږه اوازونه او دلوښو ګړنګ وکړونګ غوږو ته رسېده - مګر په ځینو کورونو کښې دغه اوازونه دلرونو دتیره کولو ، له کبله نه اوریدل کېدل - ځکه دوی به ژر ژر او په بیړه بیړه لرونه تېره کول چه جبو ته په وښو کولو پسې ولاړ شی . په تشو کوڅو کښې له خو به ډك شپا نه روان وو ، یو پادوان چه کڅوړه یې په اوږه ځړولې وه ، پړی یې په ځان پسې راښکود پر هغو وښو یې چه په پرخه تک سپین وو ، په خپلو لو څو پښو توره لیکه جوړوله .

اخوا دیخوا به یې په خپله مترو که یوشی ته شرپ ورکاوه او په زیږ آواز به یې ناري وهلې !

«غواګانې مورا وباسیء! غو- وا-ګانې مو ... !»

تراوسه یې لا آواز کمزوری او له خو به ډك معلومیده ځکه په زور کښې لاراغلی نه ؤ. ډېر ژر ورونه بیرته شول او غواګانې ځنې ورووړو په راوتلو شوې کوڅه له غواګانو نه ډکه شوه - رنګارنګ غواګانې سره ګډی شوې اور مباړو یې ټوله کوڅه ونیوله. کله چه پادوان خپله پاده دکوڅې کوز سرته ورسوله که ګوری یوه سره بخنه چرګی غوا په هغه بل چمن کښې ښکاره شوه - یوی نجلۍ چه تور و یښتان یې درلوده اولښته ورسره وه دغه غوا پادې ته ورزغلو له دغی نجلۍ په ډیره بیړه غوا پادې ته ورسوله ، بیا بیرته کورته په منډو شوه پاده لا له سترګو پنا شوې نه وه چه نجلۍ بیرته په جلګه کښې ښکاره

شوه چه یو ستل یې هم په لاس کښې ؤ څاه ته ورغله ـ ستل یې د زنځیر په خنجك کښې واچاوه او څاه ته یې کښته کړ ، او په ډیره خوشالۍ یې په ابو کښې غوپه کړ . کله چه ستل ډك شو او دا په ګوتو کښې دهغې په ډکیدو پوه شوه ـ په دغه حال کښې چه زنځیر کش کړی او ستل را و باسی په دې وخت کښې یې فکر بلې خوا ته لاړ زنځیر یې بیرته سست کړ زنځیر یې نیولی او څاه ته ورکړو په شوه او په او بو کښې یې خپل ځان کوت ، داو بو نه یې دهینداري کار اخیست په همدغه تماشا اخته وه چه یو چا ور باندې غږ کړ :

«هانا چیرته یې شیطانې ؟»

«زه دغه دی درروان یم ....»

نجلۍ په بیړه ستل له زنځیره خلاص کړ او په چټکۍ کورته روانه شوه چه په تګ کښې او به له ستل نه پرشګو تو یید ی .

هغلته په هغه بل نژدی میدان کښې یو ږیره ورسړی ولاړ ؤ چه لوی تاری کمیس یې اغؤستی و او دیوماشین په پاکولو لګیا ؤ ده سره نژدې په یوه شین چمن کښې یو اس څریده اوورو ورو یې په وښو کښې خوله وهله . په بل میدان کښې یوه ښځه څاه ته ولاړه ده ـ او به ځنې باسی چه (خوکې) ته یې ورکړی ـ کله چه یې او به ورته کېښو دې ـ خوکی شوخی شروع کړه ـ دې که هر څو منع کوله نه کراریده ـ په ټوپو یې پیل وکړ ـ ښځی اخوادیخوا وکاته چه کوتک پیدا کړی اوور باندې ویې وهی خوکوتك یی مونده نه کړ ـ بیا یې په خپله لوڅه یښه یوه لغته ورکړه خو پښه یې په دغه لغته دومره خوږه شوه چه بی حسه اوویده شوه اونوره له خوځیدو وو تله په دی وخت کښې د کلی ټول خلك ویښ شوی وو ، هر طرف ته د خلکو خبری اوریدلی کیدې او کارو فعالیت

جاری و هرچا یو کار په مخه کړی ؤ یو زوړ سړی په اس سور دی اوچمن ته یې دڅرید لو دپاره روان کړی دی ـ دلیمو له بڼ نه چه تیر شو ـ که ګوری یو هلك هم پر اس سور دی، اوخپل اس یی هغه چمن ته روان کړی دی .

ددغه هلك ولی ځوړ ندو ، داسی معلومیده لکه یو زوړ سړی چه وی ده هم خپل اس ور چالا که کړ اوځان یې ورور ساوه

له هغه کلا څخه چه نجلۍ ورته داوبو له ډك ستل سره ورننو تلی وه یو ځلمی هلك چه له سترګو یی لا خوب نه ؤ تښتید لی ، ډ یو ډ ی ته راووت شو نډی یی هما غسی دخوب له لاسه ببرې وې .

په دغه هلك باندی یې مور ډیره مهربانه وه و ختی به یې له خو به نه پاڅاوه اوس د دغه هلك دپاره دغه کار ډیر ګران وچه خپل خوب ژر وتښتوی هماغسې له خو به ډك پك دی ، اوسر یې لا په خپله اراده کښې نه دی ر اوستلی .

(واسیل) چه په ډیو ډۍ کښې ودرید ـ دلرونو تیره کو لو شر نګها ر یې واورید ـ په تدریج سره دده فکر هم دیته تیار شو چه کار وکړی دغه د لرو نو تېره کو لو شر نګها ر یې هغه وخت اورید لی و چه لا نیم ویدو .

ده غږ کړ چه مور یې ورته وویل : «پاڅیږه زویه! زویه . . . پاڅیږه ټول خلك پاڅید لی دی ، ته « تر اوسه پوری ویده یې . . » ده لمر ته وکتل چه جګ راغلی او که ټیټ دی ، خو تر یوی دقیقی پورې یی لمر ته په غړید لو سترګو کتلی نه شول بیا یی وکاته ـ که ګوری لمر ښه جګ دی . په دې وخت کښې له موره په زړه کښی خپه شو ، چه ولی یې وختی پاڅو لی نه یم په بیړه له ډیو ډۍ نه کوز شو چه خپل اس ایله کړی ـ ویل یی : «زه له ټو لو

خلکو نه وروستی شوی یم ـ داما ته ډېر شرم دی ـ داټول کارونه مې دمور دی
باید چه په خپل وخت یی له خو به پاڅولی وای »

بیا جبې ته په بیړه روان شو کا، ګوری هلته یو بل اس هم ښکېل
شوی دی ، خو له یې لګولې ، څریږی . کله چه بنجر ته ورسېد (ګریندار
ډینیس) یی ولید چه یو شی ته ځیر دی . څو ورځې مخکښې دغه زوړ سړی
د کبانو ښکار ته وتلی و، هلته لوند شوی و، او د ساړو له لاسه یې ګړګوزې
وهلې ـ دومره ساړه یې شوی وچه مرګ ته یې نژدې کړی ؤ .

مګر ـ مګر اوس یې دلته روغ رمټ وکوت .

(واسیل چه له اسه) کوزشو ورته یې وویل : « اوس ښه شوی یې . »

ګرینډار په بدو ضعیف خپل سر و خو ځاوه ـ داسې معلومېده لکه یو
ماشوم چه اول وار ودریږی اوویی ویل : « هو ، ښه ! »

« دا به ډېر ښه وی چه خپله لاردې وهې او دغه دروغ پرېږدې ! »

« دغه ښکلې ورځ وګوره او دغه خبرې ! »

بیا یې دخپل اس خېټې ته وکاته ـ ځیر شو چه خوراك کوی او که نه .

« ښه خوراك کوی ! »

« بیخې ښه . »

(واسیل) د خپل اس میخ ټك وا هه او بېرته کلی ته لاړ . موریې
تناره ته ولاړه ده او په اور لړونی ځنې ایرې باسی ـ کله چه د واسیل
په راتګ پوه شوه هیڅ یې ورته ونه کتل او خپل کار یې لا په بیړه کاوه
واسیل په دغه وضعیت په زړه کښې له موره خپه شو خو ده هم داسې
وضعیت غوره کړ چه موریې هیڅ لیدلې نه دی . په دې خت کښې په
(واسیل) باندې د کور مېرمن غږ کړ :

«تیار شه . . (چرنش کادو) روانېدو ته تیار دی . . . .»

هغه کوټې ته لاړ لوریې راواخیست ـ دلور خوله یې په نوک وکتله چه تېره ده او که نه ـ خپل بوټان یې له تاخچې نه راواخیستل کښېناست چه په پښو یې کړی .

دده کشر ورور (وولودکا) چه ښکلی ویښتان یې درلوده ـ دلته ویده و، په همدغه وخت له خوبه ویښ شو ، سترګې یې چه وغړولی واسیل یې وکوت ، او چت پاڅېد .

« واسیله ، زه څنګه ؟ »

« څمله هلکه ! ته په دې شنه خړه څه کوی ؟ »

« واسیا ، بومې ځه ... بومې ځه درسره ، کنه ؟

« زه تا ته څه ضرورت لرم ؟»

ځه ، واسیا ، بومې ځه درسره ... »

(وولودکا) ترڅه وخته پورې د واسیا) له خوا دجواب اورېدو په تمه ؤ ، که یې کا ته واسیا هماغسې تریو تندې نیولی ، نه غواړی چه دی ورسره لاړشی ـ واسیا خپل بوټی نه په چټکۍ په پښو کړل ، بندونه یې و تړل روان شو ، وولودکا هم ورپسې ورو ورو روان شو .

په دې وخت کښې یې مور په هر کاره کښې پوخ کړی کېک راوړاو په مېز یې کښېښو د ـ خو (وولودکا) ورته هیڅ هڅه ونه کړه ، هماغسې دتګ په تمه دی اوویې ویل : « واسیا ؟ »

په دې وخت کښې یې نیکه وویل . « ښه چه دی یې نه خوری ، بل چا ته یې ورکړه ، راکړه چه زه یې وخورم . »

مګر لاس یې هم ور وړی نه ؤ .

مور یې په (وولودکا) پسې روانه شوه ورته یې ویل : «دغې ته وګوره !»

هلک چه څنګه ورته وکتل بېرته یې سترګې واړولې او خپل ورور

پسې روان شو مور يې ورته يوه بله ټوټه کېک ونيو. په نرمو نرمو خبر يې ورته پيل وکړ، دمور خبرې يې لا تمامې شوې نه وې چه ده په چټکۍ کيک وخوړ - او دمور په نرمو خبرو يې زړه نور هم کلکېده، ور يې ورته په خوږه ژبه ويل:

«زويکه! ته دلته دخپل بابک سره پاتې شه او کور ته ګورئ، ښه پام ور باندئ کوئ، چه ټول شيان همدلته دي!... خداى دې نه کا. که څه پېښ شي بيا به مونږ هيڅ نه لرو.

هلک ورته په کلکه وويل: «زه نه پاتې کېږم. جبې ته ځم!»

وايسل ورته په قار وويل: «ته وايه نو - څوک دې بيايي!»

ددغې خبرې په اوريدود (وولودکا) غوني له نا اميدۍ زيږ شو او له ډيره قاره وپړسېد. په تيره هغه وخت چه (وايسل) د بګۍ اس ته ورنژدې شو چه په بګۍ يې وتړي نور هم ډير خپه شو او نا اميدي يې زياته شوه هغه وخت چه نيکه يې (لور) په بګۍ کښې کښيښود او مور يې د ډوډۍ شکرۍ او داوبو (بتکي) په بګۍ کښې کښيښود - په دې وخت کښې هلک سترګې نيکه ته واړولې بيا يې مور ته وکتل او ور پسې يې خپل ور ورته سترګې وګرزولې. ده دخپلو سترګو په اړولو کښې په رمز سره داخبره غوښتله چه ورته وويل شي راځه زمونږ سره لاړ شه!

(وايسل) رسۍ واخيسته او بګۍ يې په کوڅه کښې د ميدان لور ته ورو ورو روانه کړه. په دې وخت کښې يې ټول کلي ته وکتل که ګوري ډيرې بګۍ ولاړې دي - ترنګړونه ور باندې اچول شوي ي ښځې او ماشومان يې په څنګ کښې ولاړ دي په کوڅه کښې له هر وخت نه اوس ډير خلک وو، او ټول د کار له پاره تيار شوي وو.

په دې حال کښې يې: مور ژر کور ته منډه کړه ګريندار ته يې وويل، داسې مه کوه چه د هر تکليف نه بې غمه په کونج کښې کښينې هله ژر شه وولود کا ته ورشه چه له تګه پاتې شي زمو بر خبره خو ور باندې نه لګيږي که ستا خبره ور باندې اثر وکړي ښه به وي.

وولود کا وويل: «زه نه غواړم چه پاتې شم!»

وايسل ور ته متروکه وخوځوله اوويې ويل: «ته دغه غواړې!»

د دغې خبرې په اوريدو، وولود کا خپل تندی نور هم تريو کړ؛ او قار يې لازيات شو، نور يې مور هم ور باندې پرواو نه کړه.

مګر لږ وروسته يې بيا ور ته وويل «ما په نغرې باندې په هر کاره کښې تا ته پودينګ پريښي دی ډير خوږ دی د شيد وسره يې وخوره. او يوه هګۍ هم له بکس څخه واخله. يوه واخله ښه!»

نيکه وويل: «تاسو ځيء څو مره خوشامندې يې کوی ء لکه د ټول ښار مشر چه همدی دی!»

مور يې د کار ځولۍ واخيسته بګۍ ته وختله او خپلې لوڅې پښې يې د بګۍ نه لاندې ځوړندې کړې.

«ته خپلو شيانو ته پام کوه، زبه ما زيګر بير ته راشم!»

وو ودکا، نه، د خپلې مور نرمې خبرې نه يې د نيکه قار او نه يې د خپل ورور ګوا ښو نه اوريدل.

بګۍ چه روانه شوه، دی هم ور پسې روان شو، خپله لمن يې پر لاسو ونيوله او د بګۍ نه يې سترګې بلې خواته نه اړولې او ور پسې روان و.

نيکه يې ور ته وويل: «ما نه پيژنې! نه راګرزې؟» ده که څه هم د نيکه ګوا ښو نه او خبرې اوريدې، خو څه تاثير يې ور باندې نه کاوه.

سره له دې چه (وودلو کا) پوهېده، د نيکه د خبرو نه منل ډير بد کار دی

ځکه هغه په دې کار ډېر خپه کېږي همدارنګه داورته معلومه ده، دا ډېر بدکار دی چه خپله مورمې خپه کړم سره له دغو ټولو بدیو، جبې ته د تګ مینه ور باندې دومره زیاته شوې وه، چه هیڅ شی له خپله غزمه اړولای نه شو.

هغه وخت چه بګۍ ودرېده، واسیل ورته په ګواښ ؤ، سره له دې، وولودکا هرڅه په ځان منلی وو او دخپل عزم څخه نه اوښت.

واسیل ورته په ګواښ وویل: «ته لا اوس هم مونږ پسې راروان یې!»

درې ځلې نوره هم بګۍ و درولهشوه، په هروار به ورته مور اوورور په ګواښ او قهر دبېرته ګرزید ولارښودنه کوله مګر (وولودکا) له خپله عزمه نه اوښته په ډېره مینه یې ارزولر له چه دوی سره جبې ته لاړ شی. تر اوسه پورې یې لا (فیدکا) چه یو خوږ ملګری یې ؤلیدلی نه و، کله یې چه هغه ولید چه دخپل پلار سره په بګۍ کښې ناست دی نور نو په پروهم نه ایساریده.

چغې یې کړې «هی ءهی ء... دځانه سره مې بوځی ء!»

مور یې له بګۍ نه ټوپ کړ.

«ځه بېرته ژرشه کورته ځه. اوری او که نه؟»

«نه اوری!»

«ځې؟»

په دې وخت کښې چه مور یې له قاره نور اوراخیسته، وولودکا دڅو شېبو پورې د کچالو په پټی کښې غلی پریوت او هیڅ یې له خولې نه ویستل.

«بېرته کورته ځی؟... کورته ځې؟... بېر کورته ځې؟...»

وولودکا، خپل تندی ته په پړنده خاورو کښې زورور کړله ډېره

درده يې دژړا سلګۍ وهلې .

سره له دې چه مو يې ورځنې هيڅ وانه وريده، مګر ځای په ځای يې همدغه لته پرېښود.

هلک چه بېرته کښېناست، په خپلو اوښکو لوندؤ، موريې بګۍ ته ورسېده، وروختله، بګې چه روانه شوه، دې ته يې په ګوابښ، ګوابښ ويل: «مونږ به تاسره ګورو.... مونږ به تاسره ګورو...»

کلیوال چه يې په څنګ کښې تېرېدل ورته به يې ويل: «پاتې شوې، بويې نه تلې د زړه غوټه دې هماغسې په زړه پاتې شوه!»

په دغو خبرو له پخواڅخه لازيات خپه شو، دځانه سره يې ويل په دنيا کښې به بل څوک دومره ناګټلی نه وی، لکه زه چه يم، سمه لاره يې پرېښوده، په پټو کښې روان شو، چه په لاره کښې دهيچا سره مخامخ نه شی. اوخپل کور ته ننه وزی. هغه بګۍ چه واسيل او موريې پکښې ناست وو ځنګله ته ورسېده، دځنګله په څنګ کښې ميدان ته يې ورو ستله اوځنې کښته شول. په دې وخت کښې دلمر وړانګې دځنګله دونو په سرونو خپرې شوې وې اوځمکې ته لا کښته شوې نه وې .

هوا، توده معلومېده، موريې ويل: «نن به هوا ډېره توده وی» دوی په بېړه په نورو خلکو پسې روان شول او (تيموخ) ته يې ځانونه ورورسول.

(واسيل) تل همدغه عادت درلودچه دهغه سره به نژدې ګرزيده پر. ته له دی (هانا) د (تيموخ) لورچه د (واسيل) په منګ وه، هغه ته به ډېره نژدې کښېناسته. داوار (هانا) وريورې (دوړی) شروع کړې ټوکې ټکلی يې ورپورې کولې د (واسيل) ژوندي تريخ کړ تل به هغه په ده پسې روانه وه بې له کوم سبب اوعلته به يې په عذاباوه او په اوږه باندې به يې پورې

واهه، «واسیله ولی داسې بدرنګې اوخرابی سترګی لرې یوه سترګه دې شنه ده او بله دې سپینه ده ؟ ویښتان دې هم ګډوډ دی شاته ویښتان دې توردی او دمخې ویښتان دې سپیره دی! » هغې به چه ورپورې داسې ټوکې وکړې و به دریده او دټولو خلکو مخکښې به یې ورپورې خندل هغې به چه ورپورې دورغ تپل هم باك یې نه ؤ ، خلکو رښتیا ګڼل. د واسیل سترګې رښتیا ګډې وډې وې ویښتان یې لمر وهلی او په بل رنګ یې اړولې وومګرد نور وخلکو له ویښتیانو بدرنګ نه وو .

واسیل ډیر تنګ شو نور یې دلته ګوزاره سخته شوه خپلی مورته ورغی هغه یې دځانه سره کړه او د (چرنش کاس) کورنۍ خواته ورغلل ـ څه وخت چه (واسیل) وکتل چه د (هانا) نه خلاص شو وینه پکښې و چلیېده او ډیر خوشال شو .

«دانجلۍ ځانته څومره غره وه ، دا دومره شی نه ده ، که دا یو شی وای ، دلوزونه ښه وای هغه وخت به یې لاڅه کول ! خیرزه به ددې سره ګورم!»

واسیل دانتقام اخیستلو په فکر یو څه خوشال شو مګر په دې وخت کښې یې اس په شڼهار پیل وکړ ، ځل یې وښویید . واسیل په ډیره وار خطا یې ورمنډې کړې نور هر څه ځینی هیر شول یوازې دځل دتړلو په سودا اخته شو . خواری یې کوله چه بیرته یې وتړی و به یې تاړه بیرته به ایله شو په ډیر کوښښ کولو یې بڼه والو ته څه نتیجه په لاس نه ور تله واسیل په همدغه خواریو کښې و ، چه د (تیموخ) او (چرنش کا) دګاډیو دتیریدلو اوارونه یې تر غوږو شول .

«څه چل دی !»

«تانګو نه یې شو کیدلی دی نه تړل کیږی .»

ها نا ورته د شیطانۍ په ډول وکتل

«ده داس تانګو نه په کور کښې پریښی دی!»

دغې خبری واسیل ته ډیرزورور کړخپل کاریی پریښو د، په داسې حال کښې چه (ها نا) له خندا چپه پر ته و ه، ورته یې ویل:

«غوږ کښیږده، ګوره...»

«نور دې ځان و پیژنه او زماله کارونو سره به کار نه لرې!»

په دې وخت کښې یی مور وینو، دا ښه کار نه دی چه د یو ې نجلۍ سره جنګ وکړې.

په داسی حال کښې چه پلار یې هم ورسره وی، او پلار هم یې یو مخور سړی وی.

د (واسیل) زړه ډك ؤخو نور یی هیڅ ونه ویل.

(ها نا) که نورې هر څو مرې ټو کې او مسخرې وکړی، واسیل له خولی نه هیڅ ونه ویستل. داس ځل ور سره نورو کلیوا لو وتاړه- په دی وخت کښې د واسیل اس د و مره کمزوری معلومیده چه تش به هم کلی ته ونه رسیږی په تیره بګۍ چه ور پسې دی نو څنګه به لاړ شی؟

پرو سږ کال ژمی کښې چه واسیل دغه اس وپیرو ددټو لو کلیوالو له اسو څخه- ښه اوښکلی و، اواوس په داسی حال دی. په دې ځای کښې سرك مخ په ځوړو، سرك هم خټین و، دونو پلې هم پکښی بو کی بو کې ولاړی وې. په هر ځای کښې به چه دونې پلی ته بګۍ ورسیده نوره به ورځنې او ښتی نه شوه، مور به یی کښته شوه په ټیل وهلو به یی ځنی تیر و له واسیل به هم په بګۍ کښې غال مغال جوړ کړی ؤ

داسی ښکار یدل لکه چه دوی د بګۍ سره ټو کې او مسخرې کوی.
یوازې سرك په داسې ناوړه وضعیت نه ؤ، اسمان هم په وریځ و
پوښل شو او تور تم جوړ شو- موریی که هر څه کول، هیڅ فایده
یې نه کوله، له دغه مشکل نه هیڅ خواته تلای هم نه شوه، په خپل
سر یې ټیکری خپور کړاولاندې له پښو یې هم تاو کړ، اریانه کښیناسته
ددغه مشکل، د لیری کولو د پاره ور ځنې لاره چاره بیخی
ورکه شوه.

دوی که هر څه وکړه له ځنګله څخه و نه شو وتلای - ځنګل
ورته دومره لوی ښکاریده چه هیڅ تمامښت یې نه لاره- دوی په
همدغو چرتونو او سوداګانو کښې وو، چه څه باید وکړو.

د(چرنش کا) بګۍ یې بیاله سترګو شوه چه له هغې خوابیر ته را
روانه ده.

(ها نا) یې پکښې ولیدله چه سپین دسمال یې په سردی - فکریی
بیا دهغی خواته واوښت -هغه به می هیڅکله هیر نشی! ته دې
ځانته وګوره!

څه وخت چه واسیل چمن ته ورسید. په دی وخت کښې چرنش
کا خپل اس له بګۍ نه ایله کړ، اخوایې وشاړه چه خوراك وکړی
(فید کا) په وښو کښی په زنګنو شوی ؤ، اوکوم شی ته ځیرو،
(ها نا) داوبو بو تل د بګۍ لاندی ایښوده - که څه هم واسیل غوښتل
چه دهغی پرلوری هیڅ نه ګوری - هغی چه و خندل واسیل ور ته
یوه ترخه او ستغه خبره وکړه دهغی خوله ورته وازه پاتی شوله.

مګر هغې له خولې نه هیڅ و نه کښل.

واسیل ته یی مور غږ کړ: «واسیله! راځه چه دهمدوی سره دلته

پاتې شو، داډیر ښه ځای دی، ته وګوره...:»

په دی ځای کښې د (چرنش کا) او دو اسیل د مور تر منځه د وښو ویشلو کار هم یو لوی کار و، ځکه دواړه به سره په وښو نه جوړیده یو بل ته په ټګۍ و - سره له دې هم دواسیل مورویل دلته به چرنش کا زمونږ اس او بګۍ ته ګوری واسیل که څه هم په نورو وختو کښی د مور له خبرې نه اوښته، خو دا واریې دمور خبره په تریو تندی رده کړه.

خپل اس یې له دی ځایه لرې بوت، هغه ځای ته یی ورساوه چه د غوز نیالګی ولاړو، او شاوخوا یې ګڼې ولې وې - په دغه ځای کښی ځای په ځای او به ډنډو لاړې وې - له دغو او بو نه دواسیل کرکه وشوه - او په فکر کښی ډوب لاړ.

ددغی جبی په څنګ کښې ډیرې بګۍ ولاړې وې - زیاتره خلك له جبو نه وتلی وو، او ځینی لا تر او سه پورې په وښو کولو لګیا وو.

واسیل خپل اس ښکیل کړ چه وڅریږی - بیرته خپلې بګۍ ته راوګرزیداو لوریې ځینی واخیست لوریی په اوږه کښیښو د او بیخر ته دوښو کولو دپاره روان شو - مور یې هم په ده پسی روانه شوه.

مور یې ورته ویل: «همدا ځای دی - زمونږ ه ویش له دغه حایه تر هغه موږی پورې دی.» سره له دې چه واسیل په خپل ویش او هرڅه پوهیده - مګر دمور په سر کښی یې د ډیرور بړونو له لاسه فکر پاتی نه و، نو ځکه به یې کله کله بی ضرورته خبرې هم کولی واسیل ورته وویل «زه پوهیږم»

واسیل لور له اوږی کښته کړاو په وښو کو لو یې پیل و کړ - ماشی و ر باندې بڼیده - لږ واښه یې چه وکړل - دما شو له لا سه یې سر وخو ځاوه - دوښو کو لو نه یې سر هسك کړ - شا ؤ خوا ته یې وکتل - که ګوری تیموخ دخپلی بګۍ سره ولاړدی اوخبرې کوی .

واسیل ته یې ویل ژر کوه مونږ بیا درڅخه مخکښې شو.

واسیل ته د دغې خبرې په اورېد وغیرت ورغی - ودریده - پښې یې ټینګی ولګو لې ، لوریې په دواړو لاسو کښې ونیوه ، واښه یې له ښې خوا نه چپې خواته په ډېره بیړه اوتلوار رېبل چه په لږ وخت کښې یې لویه پره وکښله - ډېر واښه یې وکړل - موریې په څنګ کښې ورته ولاړه وه ، دخپل زوی په مړنتوب او تکړه توب ډېره مغروره شوه اوخپل زوی ته یې دنور تکړه توب غوښتنه کوله - نور خلک هم ورته اریان پاتې شول - که څه هم له خولو نه ډك شو مګر خپل کار ته یې همدغسی دوام ورکړ - یووار یی سر هسك کړ - تیموخ ته یې ویل

« څنګه ! »

که ګوری تیموخ هم ورو ورو لور خو ځوی او واښه کوی - واسیل همداسې په بیړه په وښو کولو لګیادی ، چه لور یې په څه شی ولګید اوشرنګ یې کړ - موریې ورته وویل :

« څه وشول ؟ »

« هیڅ شوی نه دی . »

مور یې ویل : « رب دې مل شه ، زه ځمه چه اس وګورم ! »

واسیل لور ته وکتل چه ډېر (پس) دی اوښه کار نه کوی - لوریې تېره کړاو بیا یې په وښو کولو پیل وکړ - که یې کاته له هره وخته اوله هرچا نه یې ډېر واښه کړی دی . هغه وخت چه د کور خواته روانیده مور

يې بيخرته وكتل ډېره خپه شوه، ويل يې، (چرنش كا) مونږ سره ټګى كړى ده، مونږ ته يې په ويش كښې لږ ځاى راكړى دى خير باك يې نشته ددې چاره به هم واسيل وكړى؛ او كومه لاره به ورته پيدا كړى.

كه څه هم دواسيل پښې لمدې وې پر توګ او نور كالى يې لامده و مګر دغو شيانو واسيل ته كوم تكليف نه پېښاوه، ځكه ددغو مشكلاتو سره بلد و، او ډېر ځله يې داسې سختى ليدلې وې.

ډېر سخت كار ورته هغه لامده وابنه وو. دوى بايد چه لامده وابنه يو جګ او وچ ځاى ته وخيژوى چه وچ شى او دغه ډېر دروند كار و ډېر ښه شى ورته هغه تړمې او به دې - چه نه ډېرې سړې وې او نه ډېرې - تو دې ډېرې ښې مناسبې او به وې چه پكښې وګرزى، خپل لو او لور وكړى.

دغه ځاى (موكوټ) نومېده هرچا به ويل دغه ځاى ډېر بد او خراب ځاى دى.

واسيل ته يو فكر پيدا شو، خلك ولې دغه ځاى د (موكوټ) په نوم يا دوى؟

ايا دغه نوم ورباندې دكوم كلى نوم ايښودشوى؟ موكوټ؟ «موكوټ» ورته ځكه وايى چه له هره ځايه ډېر زيات زيم لرى.

په دې وخت كښې واسيل ډېر ستړى ستومان شو - ټول ځان يې په خولو لوند خيشت شو، كالى يې په خولو لامده شول - لور ورته دپخوانه ډېر دروند ښكارېده - پنډۍ او ورنونه يې غوټه شول - مټان او څنګلې يې هم ورباندې درندې شوې - زړه يې دمې او هوساينې ته ډېر كېده،

غوښتل يې چه په كوم مناسب ځاى كښې دمه وكړى - ځكه په هغه ځاى كښې چه ده وابنه كول ترزنګنو پورې پكښې او به ولاړې وې او ددمې ځاى نه لاره په همدغه حال كښې يې فكر ته د مورلو مړنى درس ورغى

« باید کلک او ټینګ اوسي » ځکه ده ته چه مور لومړی وار کوم شی ښودلی ؤ هغه د کلک والی او زغم درس و. له دې کبله ده ته دمه کول بد ښکاره شول او بېرته یې په خپل کار پیل وکړ- که څه هم داوار ډېر ستړی شوی و، مګر واسیل ته دغه ستومانی کوم نوی کار نه ؤ، په خپل دغه کم ژوند کښې د داسې ډېر وسختیو سره مخامخ شوی ؤ، په ژوند کښې ورته دسختیو زغمل یو عادی کار ښکارېده .

واسیل خپل کار ته دوام ورکړ - وابنه یې وچ چمن ته وویستل - که څه هم دوښو په ویستلو کښې د ډېرې سختۍ سره مخامخ شو ، ځکه دوښو نه به او به څڅېدې او ده به وچې ته وړل- سره له دې یې هم تر هغه پورې له کاره لاس وانه خیست تر څو چه ټول یې وچې ته ونه رسول. هغه وخت چه ټول وابنه یې په وچه جلګه کښې واچول ، ورته بې وکتل ډېر خوشال شو ځکه دومره وابنه یې کړی و ، چه ټوپونه پرا ته وو . پس له دې کرار په یوه سیوری کښې په یوه جلګه غوندې ځای باندې پر یوت چه دمه وکړی اولږ هوساشی - مور یې سر ته کښېناسته شاباس یې ورباندې وایه - او د خپل مېړنی زوی د ژوند او بډوالی او خوشالی یې غوښتله . ما زیګر مهال تیموخ کاکا او د واسیل مور نیت وکړ چه کلی ته لاړ شی - د واسیل مور غوښتل چه (وولودکا) ته ډوډۍ ورکړی غوا ولوشی او خپل شیان له سترګو تېر کړی چه بې ځایه شوی نه وی د (چرنش کا) ماینه ناروغه وه غوښتل یې چه ویې ګوری څنګه ده ؟

فید کا او هانا باید چه د شپې همدلته په چمن کښې پاتې شی ؛ د او بو بوتل ، لور او کوټ یې هم دلته پرېښود . (نور بیا)

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراك بیه

(په افغانۍ)

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره
دیوی ګڼې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

(۵۳۸)

پرله پسې ګڼه

(۵)

تصحیح
د چنګاښ د میاشتې مسلسله شماره دی ۵۳۷ ولوستل شی .

Pashto

Monthly Journal Of The Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology, Sociology, Art and related fields

2 NOV 60
Copy ____ 1964

President of the Academy Pohand Reshteen
Editor: M. Sidiq Rohi
Co-editor M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul, Afghanistan